گڼه ۱۰،۹
کال ۱۳۴۷

12/68-1/69
(10) (4)
۱۳۴۷
جدی - غوش

ځمانګه

ددې ګڼې مضامین

اصلاحات لومړی له ځانه شروع کیږی د پشتی ۲ مخ
ته‌می نه هیریږی د پشتی ۳ مخ
ګلمکی ۱ «
د آریانا د واکدارانو ۴ «
د ګرمسیر جغرافیائی-وضع ۷ «
یوړوند نقاش ۱۱ «
عشق ۱۲ «
دداب وږمې ۱۴ «
هغه شپه ۱۹ «
دخندا پلوشی ۲۰ «
د نفوسو ... ۲۲ «
هغه ښځه ... ۲۸ «
د انسان شرافت ... ۳۰ «
غوره ویناوی ۳۳ «
داډیسن اختراعانی ۳۴ «

د کندهار د احمدشاه بابا دلیسی د بیالوژی لابراتوارچی د زده کوونکو د تجربو د پاره مجهز وسایل لری

اصلاحات لومړی

له ځانه شروع کیږی

څرنګه چې زموږ ګران هیواد افغانستان د مخ پر انکشاف روانو هیوادو څخه دی نو ځکه زموږ د فردی او اجتماعی ژوند په چارو کې ډېری نېمګړتیاوی لیدل کیږی .

که سړی په خپل شاوخوا کې ستر ګی ولګوی دغه نېمګړتیاوی په څرګند ډول لیدل کیږی لکه څرنګه چې وینو ټول طبقات هم په خصوصی ډول هم په شخصی ژوند کې او هم په عمومی ډول د اجتماعی چارو په هکله یو شکایت او تکلیف لری او د هری ژبی څخه د دغو نقایصو د رفع کیدو شکایتو نه پورته دی .

که رشتیا ووایم دغه تکلیفونه ودې اندازې ته رسیدلی دی چې واقعاً پر خلکو باندی د ژوند ساحه تر ډېره حده تنګه اوده یو ډول زړه و یلونکی او روحی عذاب سره مخامخ دی ، نه له چا څخه پوره حق اخستل کیږی او نه څوک په اجتماعی حقوقو او آدابو پابندی لری خو له بده مرغه په دغه توره تیاره کی هر څوک د اوایی او یا هیله کوی چې باید ټول له خلکو په خپل شخصی او اجتماعی ژوند کی خپل واجبات د ډېوه وظیفه شناس غړی په توګه سرته ورسوی .

خو کله چې د دغو خیالی رؤیاو په وخت کی وجدانی الهامات ده ته د شخصی وجایبو او اجتماعی فرایضو تلقین وکړی بیا نو سمدستی د خپلو اعمالو او کړولپاره بیل ، بیل دلایل او راز راز بهانی راپورته کړی او که نور هر څه پرو د ریږی نو دا حکم له ځان سره وکړی چې په دا ډوه باندی به جامعه پرمخ ولاړه نسی (یا په یوه ګل نه پسرلی کیږی) او نه زما د غیر اجتماعی اعمالو په اثر به دغه لو یه جامعه دومره متاثره سی خو نور خلک باید د اجتماعی مصالحو په ټولو قوانینو او آدابو پابندوی او دغه ایثار او فدا کاری باید لومړی د بل له خوا راشروع سی خو ترماوار راورسیږی البته بیا به نوزه هم پخپل وار د دغو وجایبو په ادا کولو شروع وکړم .

عمر په دغه انتظار کی تیر شو اجتماع په خپلو بی عدالتیو کی سوځی خو هیچا پدغه ایثار باندی شروع و نکړه .

زه د ایقین لرم تر څو دغه حس زموږ پر افکارو باندی حکم چلوی موږ به د پخوا په شان د خپلو ناقصو اعمالو قربانی یو او هیڅ د پیشرفت او ارتقا هیله به نه را څخه کیږی او دغه شخصی فکر او ځان ځانی حس نه یوازی موږ پرمخ نسی بیولای بلکی موږ له دغه اوسنی حال څخه نور هم تر شا بیایی .

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

د پښتو پر شفاهی کیسو یوه مقدمه

لیکونکی : م [عطائی]

د موسی جان او ګلمکی داستان

د داستان لیکنی په هنداره کی

په روانه مقاله کی به موږ د « موسی جان او ګلمکی» شفاهی داستان تر ادبی اصولو لاندی سره وسپنو او په یوه ریالستک نظر به دهغه ارزښت وګورو.

ترهغه ځایه چی موږ نن دنړی دمترقی ادبیاتو سره اشناسوی یو او بیا دهغو ادبیاتو په لمن کی دداستان لیکنی فن مو پېژندلی دی نو په پوړه زړه دا ویلای سو چی زموږ په شفاهی کیسو کی د «موسی جان او ګلمکی» داستان دادبیاتو له نوی روشو نوسره کاملا برابر دی او که نن دا په یوه بله ژبه ترجمه شی او د نړی یوه نخبه داستان لیکونکی ته ورښکاره سی نو هغه به فکر وکړی چی دا د نوی عصر په روحیه او د اجتماعی شرایطو په ټوله کم او کیف بلدیو لیکوال لیکلی دی.

دادی دا داستان به تر کوچنیو عناوینو لاندی پدې ډول وګټړو:-

د داستان قهرمان

او

کرکټرونه

موسی جان او ګلمکی د داستان د هېرو (قهرمان) او هېروینی (قهرمانی) په حیث.

ولی جان د دریم هېرو په حیث یعنی دا کیسه ددوو په عوض درې هېروګان لری.

سهپل خان منفی کرکټر.

میرولی او بیبی دوه تانده زلمی کرکټرونه.

تانو مبارزه او انتقام جویه پېغله، چی د داستان د زبده کرکټر په حیث د کیسی خاتمه په توره پای ته رسوی.

پرانګی د میرولی آس چی د داستان په کرکټرانو کی ځانته برخه لری.

د داستان فضا

کلیوالی ماحول په عادی او طبیعی ډول دیکور سوی شنه پټی او زرغونی مځکی، بزګری ژوند، خانخانی، کلاوی او د ملوك الطوایفی عیش منظرې په کامله سادګی داستان په ځان کی پر له خرڅوی.

د داستان موضوع

میراث او مځکه د داستان دماجرا ؤ تخلفونکی دی.

د کلیوالی تاجر ترمرګ وروسته کلیوالی خان په زور د هغه لور ځان ته کښېنوی او د هغی خور هم ددې لپاره له خپل نامزاد څخه راګرځوی چی میراث له ده څخه بل کور ته انتقال پیدا نه کړی.

په دوهمه صحنه کی د لوی زمیندار او کوچنی زمیندار ترمنځ مقابله راځی. لوی خان کوښښ کوی چی د کوچنی زمیندار مځکه په غیر مستقیم ډول د خپل ملکیت ضمیمه کړی او دا وضع هغی فاجعی ته منجر کیږی چی د کیسی

دریم قهرمان پکښې وژل کیږي.

د داستان طرح

داستان هیڅ پېچدګی نه لري بلکې هره واقعه چې را پورته کیږي د هغې نتیجه سمدستي ور سره ملګري وي، د عمل او عکس-العمل پر خورد ناڅاپي نه وي بلکې کله چې واقعه د آغاز په حال کې وي داسې پېشبیني کولای سي چې د هغه نتیجه څرنګه مسایلو ته منجر کیږي.

د داستان تم

په هر داستان کې تم د داستان لیکونکي هغه مقصد او غایه ده چې لوستونکي ته د داستان تر لوستلو وروسته هغسې قضاوت ورکړي لکه د داستان جوړونکي هدف چې وي په ساده عبارت تم د داستان په ټوله جریان کې هغه پټ فکر فکر دي چې د داستان شاته پروت وي او په خاتمه کې د لوستونکي ذهن ته کامله نتیجه وسپاري.

د موسی جان او ګلمکۍ په شفاهي داستان کې دا تم د کیسې د هري ماجرا سره لوستونکي یا اورېدونکي ته د مثبت او منفي په منځ کې د صالح قضاوت راژوندي کوي او هغه عمیق خلګ چې اجتماعي مسایل په کلتور کې پلټي نو د کیسې تم ئې ودې نتیجې ته رسوي چې یوه ټاکلي اجتماعي مرحله د خپلو اجتماعي او اقتصادي روابطو سره څرنګه په کیسه کې شرح سوېده.

د داستان نتیجه

دا داستان د نتیجې په لحاظ د ټولو ادبي قوانینو په تطبیق ریالسټک شېوه ډېره ښه ښیي.

هغه اساسي اصل چې د نوي ریالسم په شیوه نن په نوي ناول لیکنه کې پالل کیږي دادي چې د داستان ټوله ماجرا به د بریالي مبارزې په شپول کې پر له اوړي او نتیجه به ئې د صالح کرکټر په کامیابو او د منفي کرکټر په ناکامي پای ته رسیږي د «موسی جان او ګلمکۍ» په داستان کې د ولیجان په زهرو وژل د موسی جان او ګلمکۍ مړه کېدل او د «میرولي» تانده بانده مرګ یو زړه تږونکي فاجعه ده چې د لوستونکي په زړه کې یو خروښ پاڅوي خو هغه وخت چې «تانو» د «سهیلي» خان سره د واده په شپه توره په توره جنګ کوي او هغه لېوه خان وژني نو د داستان هر لوستونکي او اورېدونکي ته تسکین ورو بخښي او د داستان نتیجه د تانو په مبارزه بریالي پای رسیږي.

د موسی جان او ګلمکۍ د داستان نتیجه نه یواځې د پښتو په ټولو شفاهي داستانو کې د واقعیت بالنې له پیروي څخه مستغني ده بلکې که زموږ د لیکل سوي داستانو سره هم پرتله شي نو فتح به ئې په نصیب وي.

✡✡✡

د موسی جان او ګلمکۍ د کیسې لنډیز

✡ مخکې تر دې چې د یوې ✡
✡ شارټ ستوري په ډول ✡
✡ د پښتو د اشفاهي کیسه ✡
✡ وړاندې سي د کیسې ✡
✡ لنډیز به وړاندې کړو. ✡
✡ دا لنډیز د «هلمند د ✡
✡ کلتور په ساحه کې» له ✡
✡ اثر څخه را اقتباس ✡
✡ شویدی. ✡

نوروز او فیروز دوه ورونه وه چې کلیوالي سوداګري ئې کوله له دوی څخه فیروز اوه داسې ښایستي لوڼي درلودي چې هره یوه ئې د سپوږمۍ په شان ښکلي وه او په دوی کې ئې د کشري لور چې [ګلمکۍ]

نومېدله ، په کوچنیوالی کی ئې لا د کلیوالو توجه ځانته جلب کړې وه . د فیروز ورور نوروز یو زوی درلود چی د « موسی جان» نوم ئې پر ایښی ؤ.

فیروز او نوروز یوه ورځ فیصله وکړه چی خپله خپلوی ښه سره ټینګه کړی نو داؤ چی فیروز خپله کشره لور « ګلمکی» خپل وراره « موسی جان » ته ورکړه .

موسی جان او ګلمکی پخوا تردې چی هم په یوه کور کی وه یو دبله ئې ډېر ښه سره ایسېدل، او هر کله چی لوی شول نو دمینی بوټی ئې په زړه کی ژوری ریښی وځغلولی .

پدې کلی کی یو خان مشر ؤ چی « سهیلی » نومېدی. سهیلی یو شهوت پرسته خان ؤ چی ډېری ماینی ئې په کور کی کښېنولی وې اودوطن ټوله مځکی دده وې، کلیوال خلک ټوله دده بزګران وه چی دغلامانو په ډول ئې کار ځنی اخیست .

ده اورېدلی ؤ چی فیروز اکا ډېری ښایستی لوڼی لری نو هغه ؤ چی یوه ورځ ئې فیروز اکا وروغوښت او ورته وې ویل چی : زه غواړم ستاسره دوستی وکړم نو یوه لور به دی راکوې !.

فیروز اکا دده غوښتنه ومنله هغه ؤ چی د ګلمکی مشره خور «ببی» ئې سهیلی ته واده کړه.

پسله څو وخته فیروز او نوروز مړه شوه اود فیروز اکا د کور ټوله اختیار خان سهیلی په لاس کی واخیست . دامهال چی موسی جان ځلمی سوی ؤ او ګلمکی هم کوهنګه پېغله وه نو هغه څو واره د ګلمکی لاس ته راوړلو لپاره مرکی وکړی، خو ځکه چی د سهیلی په لاس کی اختیار ؤ نو دډېر ولور په غوښتنه کی ئې موسی جان په یوه او بله کاوه او هغه هم څه په لاس کی نه درلودل

موسی جان هر څه وسیلی په کار واچولی خو پر سهیلی ئې څه اثر ونه کړ .

موسی جان په دباندی کی او ګلمکی په کور کی یو د بل په ارمان دمینی او عشق په اور کی نغښتل .

موسی جان چی ځوانمرد ځلمی ؤ اوداخبره ئې پرخوا ښه نه لګېده چی ښځه ئې د بل پر کور وی، نو ځان ئې د وطنه ورک کړ اودیو بل وطن پرخوا ئې مخ ونیو. ولی جان دیو بل وطن کلیوال دی اودا وطن هم د سهیلی تر خانی لاندی دی، یو کوچنی ټوکر مځکه لری چی له دغه څخه ګذاره کوی او څرنګه چی یو مست ځوان دی نو همېشه د کلیوالو ځوانانو بانډار پرده کیږی. غزلچیان ورته راځی او هره شپه دده په اوجره کی مېله جوړوی پدې میانځ کی یوه سړی د ولیجان په مځکه دعوه کوی دا سړی خورا شریر سړی دی او د کلی کوچنی خانان هم دده پرخوادی، دادعوه ډېره اوږده شوه خو په کلی کی سپین ږیرو او ملکانو فیصله وکړه چی لوی خان سهیلی ته ئې ولیږی هر څه چی هغه وویل دواړه خواوی به ئې قبلوی.

دعوه سهیلی ته ولاړه او کله چی دولیجان مدعی سهیلی ته موک او رشوت ورکړ نو هغه پر ولیجان دملامتی حکم وکړ او مځکه دولیجان څخه ولاړه.

پدې وخت کی ولیجان له حلالو خلاص شو ، نو فیصله ئې وکړه چی دسهیلی څخه به سخت انتقام واخلی او پدغه نیت دلی پاته شو او هره ورځ څار کوی چی

کله به ئې پر سهیلی لاس برسی.

یوه ورځ چې دسهیلی ماینی ټوله د سارا (صحرا) سیل ته تللی وې اوپه دښت کې ئې دپسرلی ځلانده لمر ته اتڼ اچولی دی.

ولیجان موقع برابره ولیده اوه دښت خوا ته ئې خپل آس زین کړ اوتوره ئې په ملا بند پوری وځړوله.

په یوه ټوپ تر دښت پوری راغی، هلته ئې ولیدل چې ښځی یوازی دی اوشاوخوا څو ناجوړه بزګران لیری او نژدې لمر ته غزېدلی دی نو آس ئې وروست او ښځو ته نژدې له هغه څخه کښته شو توره ئې له ملا څخه خلاصه کړه او ددوی خوا ته ور رهی شو.

ښځی وارخطا شوې او ساتونکی ئې د بېری وتښتېدل.

ولیجان په دوی کې وکتل اود خان کره ماینه «بیبی» ئې ډېره خوښه شوه نو په ډېر قوت ئې تر مو ته ونیوله او کش ئې کړه پر آس ئې ترشا سپره کړه، کش... «باتلری»

«۲»

د آریانا د واکدارانو پخوانی سلسله

څکه چې پر ته له آریانیانو څخه ندرو بومی وګړی وهغه ځای ته پناه وړله چې همدغه بومیان تورپوستان وه.

کاوی یوسان (کیکاوس) د هغه کومك د قوت په مرسته چې د هندوکش له جنوب (د زابلستان له خوا) څخه وده ورسېدی د مازندران ټوله ساحه ئې دخپل مملکت ضمیمه او په خپل مملکت کې ئې ګډه کړله او په هره علاقه کې ئې یو حکمران مقرر کړ.

✡✡✡

کاوی سیاورشان

(کاوی سیاوش)

تر کاوی یوسان وروسته دی د آریانا حکمران سو دغه پاچا هم څو عمر دشمالی توریانیانو سره وجنګېدی په پای کې ددغو جګړو په ترڅ کې د اکسوس په شمال کې وژل سو. کاوی سیاورشان داکسوس هاخوا ته یوه کلا د «ګنګه پنامه ودانه کړه.

✡✡✡

کاوی هوسرا

(کیخسرو)

تر کاوی سیاورشان تر مرګ وروسته دده زوی کاوی هوسرا (کیخسرو) د بلخ و پاچهی ته ورسېدی. دغه پاچا هم د اوستا دلیکونو له امله اوهم د اسلامی دورې د رزمی اوحماسی منابعو له جهته یو معروف کرکټر دی د توریانیانو او د هغود حکمران (فرانګرسیانا) چې په افراسیاب مشهور دی، دخپل پلار دخون اخیستلو موضوع په فوق العاده ډول دده پر شهرت زیاتوب وکړ.

کاوی هوسرا د آریانی منافعو په ساتنه کې د شمالی توریانیانو په مقابل کې ډېر هاند اوکوښښ وکړ، ده دخپلی پاچهی او مملکت په پهلوانانو کې یو جګړن روح ژوندی کې اودشمال پر توریانیانو ئې بری وموند.

✡✡✡

د اسپه کورنی

هغه سلسله چې تر کیخسرو وروسته په بخدی کې وسلطنت ته ورسېد. د اسپه کورنی د چې

ددوی د پاچهانو د نومو وروسته کلمه ئي [اسپه] ده.

✡✡✡

اوروت اسپه

(لهراسب)

د اسپی د کورنۍ لومړی پاچا همدغه اوروت اسپه «لهراسب» دی چی دده رزمی نکلونه او کیسی د فردوسی په شاهنامه د لهراسب په نامه ډېری مشهوری دی.

✡✡✡

ویشت اسپه

(ګشتاسپ)

دی داوروت اسپه زوی ؤ چی تر پلار وروسته د پاچهی پر تخت کښېنوست.

دغه لوی واکدار یو زړور، فاتح او غیرتمن عسکرؤ چی دده د ژوندون تاریخ په جنګو سره شروع کیږی او په فتح سره پای ته رسیږی. دده د شهرت او نوموړتوب یولوی سبب د زرتشتر سپنتمان بلخی (زردشت) ظهورؤ چی دده د پاچهی په دوره کی ؤ چی ویشت اسپه ئي ښه حمایت کاوه، ویشت اسپه دخپلو اسلافو په سلسله کی ډېر وختونه د شمال د تورانیانو سره په جګړه کی ؤ او د آریانا منافع ئي ساتله.

✡✡✡

سپنوداتا

(اسفندیار)

دغه نوموړی د ویشت اسپه زوی ؤ، چی تر ده وروسته د سلطنت ته ورسېدی.

ده دخپل پلار په ژوند کی د شمال د باتورانیانو په جګړه کی د پلار سره همکاری کړېده.

تر سپنوداتا

وروسته

د آریانا د پاچهانو په پخوانۍ سلسله کی اسلامی مؤرخینو دغه لاندنی حکمرانان یاد کړی دی.

۱. بهمن.
۲. همای.
۳. داراب.
۴. دارا.

✡✡✡

اوکزیارتس

دغه د آریانا واکدار د آشوری د امپراطور «نینوس» سره د جنګو په سبب زیات شهرت ګټلی دی.

نینوس د ۱۰۰۰ق م په شاؤ خوا کی دخپلو ډېرو لښکرو سره چی شمېر ئي دوه ملیونو سربازانو ته رسېدی د آریانا د نیولو او ایلولو په هڅه کی روان شو.

اوکزیارتس چی د بلخ څخه ئي پر آریانا سلطنت کاوه، د څلورسوو زرو سربازانو سره ئي لومړی د خپل هیواد په لوېدیځو غرنیوسیمو کی او بیا ئي په بلخ کی د اشوریانو سره جګړه وکړه، په نتیجه کی سره له دې چی آشوریانو څه جزئی او لږ موفقیت لاس ته راوړی ؤ، بیاهم د آریانا سلطنت پر هغه پخوانی مستقل شکل باقی پاته شو.

✡✡✡

دیونانی مؤرخ

هیرودوتس دلیک د نقطه نظره: د آریانا ستروګړی

دیونان د پخوانی مؤرخ هیرودوتس د لیکلو له رویه د آریانا د رئیسانو د پارس د هخامنشی په مهال کی څه معلومات لاس ته راتلای شی، دغه رئیسان او ستر وګړی هیرودوتس په لاندی ډول یادوی.

۱. د پاکتیکیانو (پښتنو) رئیس «ارلیفت-

سپرانیامتر» نومېدی.

د دوی ایرغ او اسلحه لکه د آریانا د نورو قبائلو اسلحه غشی او لندی او نوری ځبونکی اسلحی وې

۲. د باختریانو او د اسکائیانو رئیس یو سړی ؤ چی هیشنا سپ نومېدی، په جنګ کی به باختریانو د

کراستی، جنګی تیش خولی پر سر کولی چی جګه به ولاړه وه او هم به ئې یو بر توګ اغوستی او بومی اسلحی

لکه لنډه نیزه (قمه)، لیندی او تبرزین چی (ساکاریس) ئې بولی استعمالولی.

۳. د آریائیانو (هرا- ئیان) رئیس د «دارنیس» زوی «راسی سام نیس» ؤ.

دې وګړو لویی، لویی لیندی او باختری اسلحی لکه لنډه نیزه او یومخه، یو طرفه تبرزین به ئې استعما- لول او هم ئې د کراستی جګی تیش خولی پر سر کولی.

۴. د کندارپانو او د دادیکسیانو (تاجکانو) رئیس چی د «اردوان» زوی «ارتی فیوس» ؤ د جنګ

په مهال کی به باختریان دغسی مسلح او دغسی جامی به ئې اغوستلی.

۵. دزرنګیانه (دسیستان) د وګړو رئیس د «میکابیز» زوی «فرن دات» ؤ.

دوی به رنګه جامی او کالی اغوسته او اوږدې موزې (چکمه) به ئې په پښو کولی چی تر زنګنو به رسېدلی. دوی به لنډی او اوږدې نیزې لوړی لیندی ئې درلودی.

✡✡✡

بسوس

پر ختیځه سیمه باندی د سکندر د حملی او یرغل په مهال کی د باختر حکمران «بسوس» ؤ چی د بلخ څخه ئې پر دوی حکم چلاوه.

دغه نوموړی زموږ د وطن د پهلوانانو، زړورو او جنګیالیو سړو څخه ؤ.

د پارس د هخامنشی د دریم پاچا داریوش د غوښتنی په اثر د سکندر په مقابل کی د هخامنشی د لښکرو سره یو ځای شو، او

مقدونیانو ته ئې لویی ضربی او تاوانونه ور ورسول، په پای کی داریوش قطعی ماتی وکړه وتښتېدی.

بسوس د آریانا د نورو سردا- رانو په ملګری داریوش د افغان په علاقه کی ونیو مړ ئې کی، او بیرته پخپل وطن کی د سکندر د مقابلی د پاره چمتو سو.

سکندر څلور کاله د آریانا په خاوره کی په سختو جګړو اخته ؤ.

د بسوس د نیولو په نیت د بلخ پرخوا روان شو، او هم ئې د اکسوس وخواته لښکری واستولی، څو په

پای کی ئې په ۳۲۹ ق م کال په ډېر زحمت او خواریو دغه د آریانا زړور جنګیالی بسوس ونیو، او د سکندر په محبس کی ئې د خپل وطن د ساتنی په لار کی ځان قربان کی.

✡✡✡

ساتی برزانت

پر ختیځه سیمه باندی د مقدونی سکندر د یرغل په مهال کی د آریانه (هرات) حکمران «ساتی برزانت» ؤ.

دغه نوموړی هم لکه بسوس د سکندر په مقابل کی د داریوش سره د کومک په ډول د هخامنشی د لښکرو سره یو ځای شو.

هغه مهال چی داریوش مغلوب او ووژل شو، نو دغه نوموړی هرات ته راستون شو چی د سکندر د یرغل مخه ونیسی.

پاته لری

دوست محمد [تره کی]

«۲»

د ګرمسیر د کلتور وضع

«دوهم فصل»

درانی احمدشاه بابا چې په ۱۱۶۰ هـ کال کې پاچا شو د سیستان او هلمند و شمالی او مرکزی برخو ته ئې د درانی نامداره خانان ولېږل او د هغو ځایو د زراعتی مځکو د ملکیت فرمانونه ئې هم ورکړه چې د هغه جملې څخه ئې د نورزو، علیزو د قوم مشران او خانان شاید ګرمسیر ته هم رالېږلی وی او د دغه ځای د زراعتی مځکو ملکیت به ئې ورکړی وی، ځکه چې د ګرمسیر اوسنی خلک وایی چې: دا مځکې احمدشاهی زموږ د نیکه ګانو راپاته دی او احمدشاهی خطونه ئې لرو، نو د دې څخه داسې معلومیږی چې د ګرمسیر اوسنی خلک د احمدشاه بابا په زمانه او یا ترده وروسته هلته ورغلی دی.

پورتنی تبصره د سیستان د تاریخ په باره کې د یونانی سکندر د زمانې څخه بیا د ابدالی احمدشاه بابا تر وخته ده چې په لنډ ډول ولیکل سوه، باید وویل سی چې پدې تبصره کې د ګرمسیر نوم لږ یا د سویدی اوتوله د سیستان په باره کې ؤ، سبب ئې دادی چې د مخه هم وویل سوه چې د ګرمسیر سیمه ځان ته جلا تاریخ نه لری او د پخوانی سیستان یوه برخه ده، نو د تاریخی نقطه نظره هره واقعه چې پر سیستان راغلی ده ګرمسیر پکښې شامل او د سیستان تاریخ د ګرمسیر تاریخ دی.

✡ ✡ ✡

شعر او ادب

د مخه تر دې چې د ګرمسیر د منطقې او یا د هغه د شاؤخوا شعر او ادب تر څېړنې لاندې ونیسو لومړی باید د شعر او ادب د کلمو په معنا او مفهوم ځان پوه او د لته ئې واضح کړم.

ادب: ادب یوه کلمه ده چې تر نن ورځې د علماؤ تر بحث لاندې ده، د دری ژبې عالمان دا کلمه دری ته منسوبه وی او عربان ئې د ادب کلمه یوه عربی کلمه بولی او وایی: چې په نبوی [ص] احادیثو کې د ادب کلمه راغلې ده. د غه رنګه د ادبیاتو کلمه هم تر څېړنې لاندې ده. یو شمېر عالمان وایی چې: ادبیات د ادب د کلمې جمع ده مګر که د ادبیات کلمه د ادب د کلمې جمع وبولو نو د صرف د علم څخه مخالفت کوی. باید وویل سی چې د ادبیاتو د کلمې په باره کې هم څېړنه شروع ده او نور پدې باره کې د لته تفصیل په کار نه دی.

د ادب علم: عبارت د پېژندګلوی څخه د ښه والی یا بدوالی د نظم او نثر دی په یوه محیط کې د ادب علم په لاندنیو قاعدوی علومو مشتمل دی.

صرف، نحوه، بدیع، بیان، منطق، عروض، قافیه د ادب د علم فرعیات دی.

تعمیرات

څرنګه چې څوقرنه د مخه د دغه محیط په خلکو کې تعمیرونه ډېر ابتدائي اود ختو وه چې په ژمي د یخه او په دوبي کې د ګرمي څخه انسانان نجات نسوای پکښې پیدا کولای. لباسونه ئې ډېرلوی دتو کر اندازه ئې زیاته د جوړولو طرز ئې خراب او یوه جوړه کالی ډېر عمر اغوندی.

باید وویل شي چې د ګرمسېر په محیط او دهغه و جنوبي خواته په خانشین او ربګستان کې تمدن او د اجتماعي تکامل سیر بطی دی او خلک ئې هر څومره چې د شمال له خوا څخه د جنوب وخواته ځي ساده او ابتدائي ژوندلري، مګر دځوزمانی راپدېخوا

دهلمند دزراعتي پروژې دانکشاف عمومي ریاست دتاسیس په نسبت په ګرمسېر کې هم تریوې اندازې دخلکو ژوند اود فکر طرز نسبت وپخوا ته ډېر فرق کړیدی علت ئې دادی چې په ګرمسېر کې د کانال کیندل د درو پشان دپل، اود سړکونو جوړول د عراده جاتو تګ او

راتګ دخلکو پرژوند تریوې اندازې اثر واچاوه مګر بیا هم دهغه ځای عوامه طبقه ابتدائي ژوندلری بنایي چې په آینده کې فرق وکړي.

✡ ✡ ✡

ابتدائي ښوونځي

دهلمند دولایت په ټولو سیمو کې ابتدائي او کلیوالي ښوونځي سته او په ځینو سیمو کې لکه دبارګزو دناوې ولسوالي او دګرشک په ولسوالي کې منځنی ښوونځي هم سته. دغه رنګه د نجونو ابتدائي ښوونځي

دګرشک په منطقه کې د ډېرو کلو راپدېخوا شروع دی د ولایت مرکز دابنګرګاه په ښار کې دهلکانو لیسه اود نجونو متوسط او نوری ابتدائي ښوونځي سته.

دګرمسېر دولسوالي ابتدائي ښوونځي دهلمند دنورو ولسوالیو تر ابتدائي ښوونځیو کم نه دی. په هغه ځای کې دوې ابتدائي ښوونځي سته. لومړی ښوونځي ئې دهزار جفت دی چې شپږ صنفه لری. دوهمه ئې ددرو پشان ابتدائي ښوونځي دی چې دا هم شپږ صنفه لری.

دپورتنیو ښوونځیو دمتعلمینو دتعلیم سویه متوسطه ده، د درس پروګرام عیني دمرکز دپروګرامو په ډول دی.

✡✡✡

کلیوالی

ښوونځي

دګرمسېر په هر کلي کې کلیوالي ښوونځي سته چې په هغه کې د هغه ځای دشاوخوا هلکان په درس

ویلو بوخت دي. دهر کلیوالي ښوونځي د معلمینو شمېر یو یا دوه نفره اکثره ځایونه ئې درو نفرته هم رسیږي. د

معلمینو تدریس ئې اصولي صنفي شکل لری (یو معلم د صنف ټوله مضمونونه هلکانو ته درس ورکوي)

په کلیوالي ښوونځیو کې درس تر دریم صنف پوری ویل کیږي، وروسته ئې بیا که د متعلمینو عمر

لږ وی هغه د ولایت مرکز لښکرګاه ته استوی او په لیسه کې ئې شاملوی یا ئې کابل ته لیږي او که ئې عمر ډېر

وی وروسته تر دریم صنف خارجیږي.

د ګرمسېر د کلیوالي ښوونځیو نومونه په لاندې ډول دی.

دصفار کلیوالي ښوونځي

د میان پشتی کلیوالی ښوونځی، د لکی کلیوالی ښوونځی، د بنادر کلیوالی ښوونځی، د بګت او لنډی کلیوالی ښوونځی.

د پورتنی کلیوالی ښوونځیو تعمیرات هم متاسفانه تکمیل نه دی او د درس ویلو کوټی ئې ډېر ساده او غیر فنی جوړی شویدی چی په ژمی کی یخ او په دوبی کی تودې دی.

✡ ✡ ✡

پخوانی او اوسنی ګرمسېر

دلته د ګرمسېر پخوانی او اوسنی ډولونه د تاریخی نقطه نظره زما مقصد نه دی بلکی د هغه محیط د وسعت او کمی، او دغه رنګه د مادی ژوند تغیرات مدنظر نیول کیږی.

د پخوانی ګرمسېر محیط نسبت و اوسنی ګرمسېر و محیط ته وسیع او پراخ ؤ. د شمال د خوا د بست (لښکرګاه) سره د بست پر لامزرع دښت او ریګونو باندی مښتی چی اوس هم په عین ترتیب د بست د ښار سره وېش لری. د جنوب وخواته ئې خواجه علی لنډی او پلا لکه چی

د پخوانی ګرمسېر مربوط ؤ او د نیمروز سره هم سرحده ؤ د شرق وخواته ئې د ښور اوک زیګونه ؤ او د غرب خوا ئې د برتا کی دښت د تا ګرشک او تر ډب سیستان پوری رسېدی. دا پراخه منطقه د یوې ولسوالی او دوو علاقه داریو له خوا چی د دغه ولسوالی تر اثر لاندی دی اداره کېده د ګرمسېر ولسوالی د دېشو علاقه داری او دوهمه د رېګستان علاقه داری ده.

د پخوانی ګرمسېر په سیمه کی هغه عصری تعمیرات، سړکونه پلونه، کانال، سربند، فرعی لښتیان، زابرونه او ویالی چی په دمخه فصل کی ذکر سوه نه لیدل کېده. د دوی ژوند د مادی او معنوی نقطه نظره ډېر ساده او ابتدائی ؤ، فرعی لاری ئې خرابی وې د یوه

ځایه څخه بل ځای ته تګ او راتګ مشکل ؤ، عراده جات هلته نه تله او نه د عراده جاتو سمی لاری وی، خلګ که به د ولایت مرکز ته د رسمی کارو او یا نورو لیرو ځایو څخه د شخصی کارو د پاره تله د دوی د حمل ؤ نقل وسایل آس او اوښ وه چی د ولایت مرکز او د کندهار

ښار ته رسېده، شپی به ئې پر لاری په برکی نیولی. د هلمند د سیند د د یوې غاړی څخه و بلی غاړی ته اوښتل ډېر مشکل ؤ او یوه کمه اندازه مصرف ئې هم غوښتی. د استوګی د کورو، خونو او د ښځو د

کالو جوړښت ئې تقریباً د اوس او پخوانی وختو ترمنځ کم فرق نه لری مګر د نارینه کالی ئې اصلاح شویدی. د

ناجوړه علاج او تداوی په پخوانی وخت کی نه کېده د دوی علاج ډېر ساده ؤ چی په آینده کی به د عرف او

عادات په فصل کی تفصیل درکړه سی، مګر نن ورځ هلته د هلمند د زراعتی انکشاف لوی ریاست له خوا

د عمومی صحت د مؤسسی له خوا یوه شفاخانه جوړه سوېده چی عصری تعمیر لری او موظف ډاکتر او دوه

نفره کمپوډران هم هلته وظیفه لری چی د خلګو د مریضی علاج کوی او دا ویلای سم چی د ګرمسېر د خلګو صحت نسبت و پخوا ته اوس ډېر وقایه شویدی.

د زراعت د نقطه نظره په خلګو کی تر تېرو څلورو کلونو دمخه و پخوانی ګرمسېر او اوسنی ګرمسېر

ترمنځ کم فرق نه ؤ اما د څلورو کلونو را پدېخوا هلته د پنبی زراعت چی په پخوا کی نه ؤ اوس د هلمند

د لوی ریاست د زراعتی پروژې د ریاست له خوا

په خلکو په فنی ډول کیږی . دغه رنګه د زراعتی پروژې له خوا نهالخانی هم جوړی سویدی ، خو باید وویل سی چی د پخوانی ګرمسیر دزراعت اوبه ډیرلږ، مګر د ۱۲ کالو راپدیخوا د کانال په کیندلو سره هلته زراعتی اوبه ډیر پرېمانه اوډیر لامزروع مځکی

تراوبولاندی سویدی. داجتماعی ژوند د نظره په پخوانی ګرمسیر کی دملوك الطوایفی آثار موجودڤ او خلکو قبیلوی ژوند درلودی چی عموماً به یو ډله خلک د ملاکانو اوخانانو تراثر لاندی ڤ دا دخان اوملاك نفوذ اوقدرت پر بزګر او مزدورکارو باندی ډیر ڤ

دائماً به دوی د ملاك تراثر لاندی ژوندکاوه اودخپل ژوندانه په شخصی کارونکی به ئې د ملاکانو اوخانانو څخه مشوره او اجازه دهغوی د نفوذ او قدرت له رویه اخیستل. خانانو او ملاکانو به ددوی دسر، مال او اولادو اختیار درلودی . مزدورانو ته به دډیر

کار په مقابل کی لږ اجوره ورکول کیده. دعدالت او انصاف پرنسیپ لږ عمل کیدی . بزګر خپل حق د ملاك څخه نسوای غوښتلای، د مزدورانو دکار ارزښ لږ ڤ، هر کار چی به په ګرمسیر کی پیدا- کیدلی په خان اوملاك به مربوط ڤ، دکار دلږوالی له کبله بزګرانو

اومزدورانو بېله دملاکانو دکار وڅخه بل ځای کار نه سوای پیدا- کولای نومستقیماً به ددوی تراثرلاندی وه. نورکارونه لکه صنعت اوتجارت ډیر کم ڤ. مګر نن ورځ هغه کارونه چی د هلمند دزراعتی انکشاف دلوی ریاست له خوا دګرمسیر په سیمه کی لکه دسړ کوترمیم

دزابرو کیندل، دزراعتی مځکو جوړول او نور کارونه دهغه محیط دخلکو له خوا کیږی، طبعاً دکار تقاضا زیاته سوه، دملاك باداری پرمزدور او بزګر په نسبی توګه لږ سوه . هغه وخت چی کانال سړ کونه، پلان اونوری انکشافی پروژې په ګرمسیر کی تکمیل کیدی

د ۳ کالو په موده کی خارجی اوداخلی متخصصینو او کارګرو چی شمیر ئې تقریباً ۲۰۰۰ تنه ڤ کارونه وکړه. طبعاً هلته ماشینان او عراده جات هم ډیر وه، د ګرمسیر ځینی خلک هم دکار او کسب خاوندان اود هغی سیمی دخلکو ذهنیت دخارجی سهم اود داخلی

کارګرانو د تماس په واسطه فرق وکړ. دخانانو اوملاکانو قدرت او نفوذ نسبت و پخوا ته لږ سو ، که څه هم اوس دګرمسیر خلک لکه پخوا نه تراد ملاکانو تراثر لاندی نه راځی، خو ملاك بیاهم زیات قدرت لری .

د امنیت او آرامی د نظره پخوانی ګرمسیر نسبت واوسنی ګرمسیر ته ناآرامه ڤ، دائماً به د ملاکانو ترمنځ شخړی اومناقشی وی

اوددوو ملاکانو د برخلافی په نسبت به خلک زخمیان اویا به ئې یو د بله سره وژل دقدرت سره برابر به هرچا

وسلی په کور کی ساتلی، د منطقی د پراخوالی په نسبت دولسوالی انضباط هم قوی نه ڤ، مګر نن ورځ دحکومت

انضباط او دفکر دتحول په نسبت پخوانی ناآرامی او بېځایه تعصبات ، جنګړنه وژل اووهل ڤ ټکول په نسبی توګه لږ سویدی.

نن ورځ دګرمسیر اوسنی محیط د اجتماعی وضعی او ثقافت د نظره نسبت و پخوا ته ډیر فرق لری وسعت

ئې کم دی . و جنوب طرف ته ئې د پخوانی ګرمسیر څخه یوه ولسوالی د خانشین د ولسوالی په نامه دځو کلو نو

راپدیخوا د داخله وزارت له خوا جلا سوېده چی د رېګستان علاقه داری هم د هغه ولسوالی مربوط ده .

د اجتماعی ژوند د

نور به ۱۳ مخ کی

یو ړوند نقاش
او
مجسمه جوړونکی

د فرانسی نامتو او معاصر لیکوال [موروا] وایی چی: په داخپل ژوند کی می ډېر سفرونه کړی او ډېر څه می لیدلی دی خو پدې لیدلو کی می دوه عجیب انسانان ولیدل چی خلګ حیران ورته تللی دی، دا دوه انسانان چی ما لیدلی دی یو «هلن کلر» امریکائی لیکواله ده چی ړنده، کڼه او ګونګی ده. بل د فرانسی هنرمند نقاش او مجسمه جوړونکی «رنه تورنو» دی.

څوک چی وغواړی دارادې او عزم په قدرت ځان و پوهوی ددوی د ژوند کامیابی، پوهی او هنر ته دی وګوری.

امریکائی لیکواله چی ټولی دنیا پېژندلی ده یوه پوهه لیکواله ده. خو تردې چی یو څه لا د تعجب وړ ګرزېدلی دی هغه فرانسوی نقاش او مجسمه جوړونکی دی.

دا نقاش «رنه تورنو» می په پاریس کی لیدلی ؤ چی پخپل کور کی په نقاشی او مجسمه جوړولو لګیاؤ.

دې سړی دخپلی تواضع په وجه او د تظاهر سره د بی میلی په سبب نه غوښتل چی خپل دهنرمندو لاسو محصولات په موزیم کی کښېږدی یا ئی و لویو نندارتونو ته ولیږی، کله چی ئې دوستانو ولیدل چی دده د لاس کارونه ډېره فوق العاده ګی لری نو دا کار دوی وکی چی د رنه تورنو آثار له هغه وروسته میدانی شوه او له ډېرو آثارو څخه ئې میدان هم یووړ.

دا نقاش په لومړی بین المللی جګړه کی یو شجاع عسکر او دیوه انفجار په اثر ئې دواړه سترګی ړندې سوې او یو لاس ئې هم والوت. نقاش چی دخپل بدن دا دوه نعمتونه دلاسه ورکړه بیا هم په ژوند کی مایوسه نه شو بلکی انسانی اراده او عزم ئې په کار واچول تر پخوا لا موفق شو چی دا دده همت د نړۍ خلګو په سترګو ولیدی.

«رنه تورنو» چی زخمی او ړوند شو یوه ځوانه او ښکلی کوزده ئې درلوده. دې همت-ناکی ښځی چی خپل مېړه معیوب ولیدی نه داچی پرې ایږدی بلکی پخپل ټوله قدرت او توان ئې دده ونېکمرغۍ ته توجه وکړه چی دا دوه همته سره متحد شوه او رنه تورنو څخه نابغه جوړ شو.

دا ښځه «ژاکلین» نومېده چی په ۱۹۲۲ کال کی دده سره ئې واده وکی. نقاش دیوې داسی ښځی په درلولو سره ځان د دنیا یو لوی نېکمرغه موجود باله ددې ښځی د محبت په سایه کی ئې په آسوده خاطر وخپل هنر ته ځان وقف کړ او هنری شاهکارونه ئې په وجود راوړه.

تورنو دمخه تردې چی معیوب شی یو ورزشکار او بوکس باز ځوان هم ؤ او پدغه وخت کی ئې د نقاشی سره څه علاقه درلوده چی ړوند شو نو ئې ټوله توجه دې خواته راوګرځېدل، سره دهغه چی د فرانسی دولت څه مستعمری معاش ورکاوه خپلی ځوانی ښځی به ئې کارونه کول او دده د ژوندانه اړتیاوی به ئې ورپوره کولی. ده د تمرین پروخت خپل ټول جوړ سوی شیان ضایع کول او د ځان سره ئې هیڅ اثر نه ؤ ساتلی له دې وروسته به ئې د مشهورو خلګو مجسمی او

د [تپاند] ژباړه

د عشقونو فراق

ماته مکتوب مه لیکه ؛ نه پوهېږې چې څومره غمجن یم او څنګه د خپل ځان د نیستۍ آرزو کوم. ښکلی پسرلی بې تا ماته لکه بې رڼا څراغ داسې وی .

ډول، ډول تابلوګانې تهیه کولې او پر بلوایانو به ئې خرڅولې ځینې مجسمې او تصویرونه چې د فرانسې پـه خلکو به ئې اړه درلوده، دې خپلو خاوندانو به ځینې رانیول څه نور آثار به ئې د ځان سره ساتل .

په دوهم لوی جنګ کې چې فـرانسه المانیانـو ونیول نو المانیانـو دده هنرمندی ته په حیرت کې شول .

دالمان داشغالګر وقوماندان د پاریس څخه په یـوه لیك کې هټلر ته هم اطلاع ورکړی وه .

هټلر ویلی وه: چې دا هنرمند باید زه ووینم. خو «تورنـو» حاضر نه شو چې هټلر ته ورسی او د ښځې په مرسته له پاریس څخه ووت او تر څو پاریس د المانیانو په لاس کې ؤ «تورنـو» پټ ؤ .

د «تورنو» د نقاشی او مجسمه جوړولو کار چې طبعاً معطل سوی ؤ نو بیا هم دده لوړهمتی ښځې هنرمند «تورنو» درمانده پرې نښاوه او لکه پخوا غوندی هغسې ئې چلاوه.

پاریس چې آزاد شو «تورنو» اوښځه ئې بیرته راغله د انوالید په هوټل کې ئې واړول .

هنرمند نقـاش او مجسمه جوړونکی خپل قیمتی اثـرونه له دې وروسته جوړ کړه . هغه مشهور او ګران بیه نقاشی او مجسمې چې د پاریس د «رودن» په موزیم کې ایښول سویدی د دوهم جنګ وروسته ده جـوړ کړیدی.

ځوند مجسمه ساز او نقاش چې څه مجسمې جوړې کړیدی ترتیب ئې داسې دی چې: په خپل سالم لاس به ئې «مدل» لمس کړ او بیا به ئې دهغه تېره میل په توسط چې په ځګر پورې بـه ئې تـړلی ؤ مجسمه تراشل . په نقاشی ئې هم دګوتـو څخه د «مدل» د لمس کار اخیست او قلم به ئې په خوله کې نیولی نقش به ئې کاوه .

دا دده خبره ده چې وایی: هغه نور خلګ ئې پـه ستر ګو وینی ، زه ئې په ګوتو وینم.

د [عمرزی] ژباړه

او اوس مې خپل څنګلی سره تړلی دی، ځکه نه مې سوای کولای چې تا پخپل بغل کې ټینګ ونیسم . نن

که مې په زړه لاس ووهی لکه په یوه خاموش او تاریك قبـر چې دی لاس وهلی وی، ماته مکتوب مه لیکه.

ماته مکتوب مه لیکه ! پر بېرده چې زه او ته بېله د زړه له مرګه نور هیڅ سره ونه ګورو .

که غواړې چې وپـوهېږې چې څومره مې دوسته درلودې خپل ځان څخه مې پوښتنه وکړه او که پخپل زړه کې یوه خاموشانه ږغ واوری چې لـه عشق څخه فریـاد وکړی داسې مثال لری لکه چې آسمان ته تللی یی، او د آسمـان ږغ دی واوریدی.

ماته مکتوب مه لیکه ؟ زه ستا دلیك څخه وهمېږم او د خپل فکر څخه هم بېرېږم ځکه ستا د ږغ خاطره ماته

د ګرمسیر ...

د ۱۰ مخ پاته

نقطی نظره په ګرمسیر کی د وګړو ژوند ورځ په ورځ مخ پر ښه کېدودی، د کار وسایل ډېر شویدی، اقتصادی بنیه د خلګو نسبت وپخواته ښه ده. هغه بېځایه عرف ؤ عادات چی دغم او ښادیو په وخت کی به په ګرمسیر کی لیدل کېده نن ورځ بعضی کم او بعضی بلکل دمنځه تللی. دعراده جاتو تګ او راتګ دمخابرې او تلفون وسایل یوڅه منظم شویدی.

دمادی شرایطو له مخی دخلګو دژوند معنوی جنبه یعنی د فکر تحول هم نسبت وپخواته ښه شویدی.

✡ ✡ ✡

د خګو ذوق او سلیقه

انسانان عموماً په هر ځای کی چی دی هر یو ځان ته بېل ذوق او سلیقه لری. ذوق او سلیقه دهر محیط په پوه او دانش پوری اړه لری که محیط مترقی وی د خلګو ذوق ئې هم معقول او مترقی دی برعکس که محیط ابتدائی وی ذوقونه دهغه ځای دخلګو هم ابتدائی او بی معنا دی.

دګرمسیر دمحیط خلګ چندانی دښه ذوق او سلیقی خاوندان نه دی. هلته دانسانانو مختلفی طبقی ژوند کوی. بزګر او مزدور-کاره طبقی عموماً داحتیاج د پوره کولو په فکر کی دی. مزدوران دکار د پیدا کولو کوښښ کوی چی حاصلات دمځکی زیاد او اقتصادی وضع ئې ښه سی. د خانانو ذوق دادی چی املاك نقدی پیسی او حاصلات ئې ډېروی او ډېر خلګ ددوی دخانی او ملاکی تر نفوذ لاندی ژوند وکی او هر یو کوښښ لری چی په خپل محیط کی ئې ټوله کارونه دده په مشوره سرته ورسیږی.

سربېره پر پورتنیو طبقاتو یوه طبقه خلګ سته چی ددې سره ذوق لری چی اولادونه ئې تعلیم وکړی او دآینده دپاره تربیه سی دا خلګ عموماً متوسطه طبقه ده چی نه خانان او نه مزدوران دی بلکی کوچنی ملاکان، بزګران یا دنورو پېشه ؤ خاوندان دی.

دګرمسیر ټوله خلګ که غریب دی که بډای دډمانو (۱) دساز او غزل ویلو او ډول وهلو سره ذوق لری او هرخان یو ډم سره دکورنی دساز دپاره ساتی. «نوربیا»

(۱) ډم هغه څوك دی چی ساز کوی دخلګو سرونه او ډېری اصلاح کوی

دعشقونو پاته برخه

دونه د زړه درد راپرې-ایښی دی چی کله، کله دی غلبلی د خپله څنګه سره اورم.

د خدای دپاره؛ پاکی او روڼی او به وهغه تږی ته چی د هغه د چښلو حق نه لری مه ورښکاره کوه.

ما ته لیك مه لیکه، ځکه دمعشوق مکتوب دهغه یو ژوندی تصویر دی.

ما ته مکتوب مه لیکه، او هغه دوې کرښی چی زه ئې دویلو قدرت نه لرم مه راته لیکه؛ ځکه ستا ږغ هغه زما وغوږو ته رسوی او ستا د خوشحالی څېرې خندا وما ته ستا د لیك پرمخ راښکاره کوی، نو ما ته مکتوب مه لیکه؛ ځکه داسی فکر کوم چی یوه سوځونکی مچه ستا له دوو شونډو دغه دوې خبری می د زړه په لوحه نقش اولیکی، ما ته مکتوب مه لیکه!.

ښاغلی عبدالکریم [محب]

د مینی پیغام

بیا درته په کوکو په ژړا راغلی یم
ستر ګی دی راواړه په غلا راغلی یم
پوه نه شوم مه ستا په عفوه پوه نه شوم
وایه که څه وایی چی زه بیا راغلی یم
سرمی دی خیرات ستا د ښکلا په نوم
ځن دی چی د رشل ته بېنوا راغلی یم
مینه تخنوی راته اسری خوله کښی
داسی دی چی خواته بی حیا راغلی یم
ستا د نوی موډ لنډی وربل نه جار
زه د نوی وخت په تقاضا راغلی یم
پر پرده حیا ، مخ ته سالو مه نیسه
زه دی ننداره ته د ښکلا راغلی یم
وکړه ناز ادا خو په غوسه نه شی
ستا د پیمانونو په سلا راغلی یم
خیر دی د جنون زولنی ښکل به کړم
ستا تردې محله چی رسوا راغلی یم
وګوره «محب» ته په آشنا ستر ګو
ستا د خوږ نظر سره آشنا راغلی یم

ښاغلی [هارونی]

که هر څه ناوخته ولاړ سې

موږ دی وینو

ای چی پروت یی لکه ماپر سرو او سپینو
در په یاد که بد احوال د مساکینو
ستا خورک کلچی ؤ کیک، وریجی ؤ غوښی
دوی ماړه نه دی تنها په اوربشینو
د هغو کره د خړ سان کالی نسته
ستا د کور بوخچی دی ؤ کی په زرینو
د دوی فرش ځیری بوری ده یا بوریاده
ستا د کور خونی دی فرش په ښو قالینو
ستا په کور کی استعمال د ګردنر دی
د هغو وس قادر نه دی پر خاورینو
د سملونه چی ډک وړی د کور پر لوری
که هر څه ناوخته ولاړ سی موږ دی وینو
دادی ټوله سه روزی څه بد کار نه دی
خو حال نیسه د بی وزلو مسلمینو
د ښه ژوند او نعمتو به شکرانه سی
هم دا ستا او هم دا ستا د نازنینو

ښاغلی غلام دستګیر [لونګ]

سپین مخ

یا ښکاره شو تـوره شپه کی د دلبر مخ
یا را وخوت په آسمان کی د سهر مخ
توره‌شپه چی شوه رڼا زه ورته‌ځیر شوم
ښه ښکـاره شو چـی هغه ؤ منور مخ
پلو شی د رڼا هر لوری خوری شوې
لکه خور شی په آسمان کی جوړ دلمر مخ
ستورو ورکړی خپلی غیږی په آسمان کی
هغه وخت‌چی را ښکاره شو د قمر مخ
ما «لونګ» لید لی ډېر ښایسته مخونه
خو مـا نه ولید بـل داسی د بشر مخ

ښاغلی «الفت»

خاوری او ګرزونه

له کوم لوری راروان یو جهان ګرد ؤ
مخ او څټ باندی ئې پروت دلاری ګرد ؤ
ما وې څه دی ولیدل په‌دې جهان کی
ویلی‌دومره شومه‌پوه چی‌جهان ګرد ؤ

✡ ✡ ✡

له دې خاوری سوه پیدا ډېر عالمونه
چی آباد ئې کړه لوی کلی لوی ښارونه
یو څو ورځی ئې د ژوند سندری ووې
بیرته خاوری سوه اوچت ئې سول ګردونه

✡ ✡ ✡

لکه بوی چی له ګلشنه را جـدا سی
یـا بخار لـه دریـا بونو په هـوا سی
یوه ورځ به هم زموږ له خاورو دوړو
یو ګرد پورته له صحرا نه د دنیا سی

ښاغلی [قتیل خوږیانی]

امیدونه

ما ساتلی د عمرونو امیدونه
راولاړمی شوه په زړه باندی جوشونه
موده وشوه چی د هجر توره شپه ده
توره شپه کښی را پېښ سوی منزلونه
مستی ستا جمال به کله راښکاره شی
چی می کم شی د مین زړګی دردونه
په امید ستا د دیدن عمرونه تېر شول
پورته نه شول د مین زړه ارمانونه
یوغم نه وی راڅه تللی بل پیداشی
څو به ګالم تمامی عمر غمونه
درقیب ناخوالو ډېریم ځورولی
ته لا هم محبوبی کاندی منتونه
هغه وخت رانژدې سوی امید شته دی
چی په مینه درته تاو کړمه لاسونه
د رقیب دغه ناخوالی به تل نه وی
ستا وربل کښی به کتار کړمه ګلونه

ښاغلی [اجمل خټک]

د دیدن زېری

یاداچی ستا دسترګو په سودا سومه
بس نه یم رسوا که اوس رسوا سومه
پټ پکښی دا ستا د دیدن زېری ؤ
ځکه د یو ګل په تماشا سومه

بس هره ښادی په ما اوس غم لګی
ستا د دردو غم سره آشنا سومه
تېر وتم د ښکلو په خندا باندی
ښه سوه چی د خلګو د خندا سومه
بخت که می ویده وی تل نوګرم نه دی
ښکار د خوبولو د حیا سومه

تورو شپو دی سهارونه زېږولی
د هجران شپی به آخر شی سهارونه
خو ته خپله مهربانه په «قتیل» شه
څو به ګالم ستا په عشق کی تکلیفونه

ښاغلی [لایق]

ځوان ته

په کوم ځای کی چی د علم ډېوه بل سی
یا د فکر لمبه وسوځی جل بل سی
د پتنګ په شانی ځان ترینه قربان کړه
چی سینه دی له ایرو ځنی خجل سی

ځوان هغه دی چی د ځوان فکر خاوند وی
نه هغی چی د اوهامو په دام بند وی
سل ځوانان دی ترهغه زاړه قربان سی
چی خاوند د نوی رنګ او نوی خوند وی

هغه ځوان چی د وطن په دردو سوځیږی
که سل ځله په مخ لویږی پورته کیږی
ماتری سل ځله قربان او صدقه کړې
چی د مرګه په پوله ناست دی لاخوځیږی

ښاغلی [متین] خوږیانی

شاعره!

شاعره بس دی نور دعشق اود نګار خبری
په خوږه مینه راته ولیکه د کار خبری
د عشق جذبی مه پاروه دا تمنا ومنه
په لټی مه اخته کوه څوك دا زما ومنه
چی پند تری واخلم ردوه د ستمګار خبری

قومی دردونو ځینی جوړیو لونګین که راته
لږ څه خوشاله دازما زړګی غمګین که راته
مه یادوه د خدای دپاره د رویبار خبری

دا پښتونخوا زموږ نه غواړی اعتلا په دنیا
نام او نښان رانه روکیه سربالا په دنیا
ډیریم تنګ شوی چی زه اورم د اغیار خبری

عشق اندیښنه ده زندګی سره تاوان رسوی
دژوند سمون ته دجنون ډك ارمغان رسوی
له خپلو متو چی کاروا خلم کړه رویکار خبری

د وطن مینی ملی درد سره آشنا می که لږ
په اخوت کښی غمشریك نن دهر چامی که لږ
راته بیان کړه د خالق پروردګار خبری

دځانځانی ځنی په څنګ دا پښتونخوا کړه زما
دغه ژړا خو لږ بدله په خندا کړه زما
چی سعادت راولی کړه راته اظهار خبری

دا د «متین» د زړه آرزو له شاعرانو نه ده
په پښتونخوا کی بار کبینو ادیبانو نه ده
د رهنما په څېر چی وکړی د ملیار خبری

ښاغلی شیر محمد [ولس مل]

وطنه!

ترنړ بدلو کنډوالو دی قربان
تر دغه جګو جګو غرو دی قربان
ستا په مرګوټ کی غیر تمن لوئیږی
ستا تر زانګو ستا تر ټالو دی
قربان
د غرو لمنی شنه دښتونه لاڅه
ستا تر لانبو او ګړنګو دی
قربان
په شنو کښتو او کروندو کی چی دی
د هر بز ګر تر زحمتو دی
قربان
په کارخانو کی کارګر یادوم
د هر کارګر تر کوښښو دی
قربان
په مؤسسو کی دانو فکره ځوانان
د هر یو ځوان تر ښو فکرو دی
قربان
دانوی نسل چی دی اوس لوئیږی
د دغه نسل تر ځلمو دی
قربان
مور په شیدو کی مینه ستا ورکوی
د هسی میندو تر شیدو دی
قربان
ولس مل ژوندی وقف کړی تا ته!
ستا تر ګوښو او کنارو دی
قربان

ښاغلی دین محمد [سامی]

علم او لوړ تیا

هر ټبر لره په علم کښی لوړ تیا شته
چی خپل ځان به نیکو روزی نیکبخت شی
مرد ئی بولم چی خادم د خپل وطن وی
ډاډ به ور کړم ای سامی تمام جهان ته
په وحدت خو پېژندل هم د الله شته
آدمی ته ښه کارونه په دنیا شته
د وطن د ننګ ساتلو کښی بقا شته
ماسره توره، توپك ننګ د بابا شته

بناغلی [باور]

زما د فکر سرئې په زنګون لیکلی دی

تقدیر چې مې ازل کښې نوم پښتون لیکلی دی
ذلیل زما په برخه ئې ژوندون لیکلی دی

دنیا د بیداری کښې پرېوتلی یم مدهوش
راتګ زما دنیا ته ئې پېرون لیکلی دی

نور خلک په روڼو سترګو جهان ته کړی نظر
جهان زما د پاره ئې جنون لیکلی دی

دریاب د معرفت کښې خلکو بیا میندل ګوهر
د جهل دغرقاب سیند ئې جیحون لیکلی دی

انسان په کمالاتو په فضا کړی تجارت
زما سر ئې شکم ته سرنګون لیکلی دی

د خلکو کاروانونه شپه او ورځ کوی مزل
زما کاروان ئې خوب باندی مفتون لیکلی دی

آزاد فکر واصل کړله معراج ته نور عالم
زما د فکر سر ئې په زنګون لیکلی دی

خوشوقته بلبلان په آزادی کوی چغار
زما د زړه بلبل ئې جګر خون لیکلی دی

بنائست د سروګلانو تور زاغان کړه په نخا
بورا د ژیړو ګلو ئې محزون لیکلی دی

د علم برکت تورتم کورونه کړه رڼا
زما منور کور جهل واژګون لیکلی دی

نور خلک دې جهان کې خوشحالی خنداهوس کړی
پښتون ئې دې جهان کښې لړمون خوړین لیکلی دی

د یو معدن جوهر یو په دفتر کښې د خلقت
هغه ئې جلوه‌دار دا ئې خړګون لیکلی دی

معلم که متعلم ئې په مکتب کښې د ادب
ژوندون زما په برخه چا زبون لیکلی دی

په پټه خوله مې بوی کړه چې بل کس نشی خبر
د خلاصی خولی بیان «باور» مظنون لیکلی دی

بناغلی [متین] خوږیانی

شاعره!

شاعره بس دی نور دعشق اود نګار خبری
په خوږه مینه راته ولیکه د کار خبری
د عشق جذبی مه پاروه دا تمنا ومنه
په لټی مه اخته کوه څوك دا زما ومنه
چی پند تری واخلم ردوه د ستمګار خبری

قومی دردونو ځینی جوړیولو نګین که راته
لږ څه خوشاله دازما زړګی غمګین که راته
مه یادوه د خدای دپاره د رویبار خبری

دا پښتونخوا زموږ نه غواړی اعتلا په دنیا
نام او نښان رانه روکیه سربالا په دنیا
ډیریم تنګ شوی چی زه اورم د اغیار خبری

عشق اندیښنه ده زندګی سره تاوان رسوی
دژوند سمون ته دجنون ډك ارمغان رسوی
له خپلو متو چی کار واخلم کړه رویکار خبری

د وطن مینی ملی درد سره آشنا می که لږ
په اخوت کښی غمشریك نن دهر چامی که لږ
راته بیان کړه د خالق پروردګار خبری

دځانځانی ځنی په څنګ دا پښتونخوا کړه زما
دغه ژړا خو لږ بدله په خندا کړه زما
چی سعادت راولی کړه راته اظهار خبری

دا د «متین» د زړه آرزو له شاعرانو نه ده
په پښتونخوا کی بارکبینو ادیبانو نه ده
د رهنما په څېر چی وکړی د ملیار خبری

بناغلی شیر محمد [ولس مل]

وطنه!

تر نړ بدلو کنډوالو دی قربان
تر دغه جګو جګو غرو دی قربان
ستا په مرګوټ کی غیر تمن لوئیږی
ستا تر زانګو ستا تر ټالو دی
قربان
د غرو لمنی شنه دښتونه لاڅه
ستا تر لاښو او ګرنګو دی
قربان
په شنو کښتو او کروندو کی جی دی
د هر بز ګر تر زحمتو دی
قربان
په کارخانو کی کارګر یادوم
د هر کارګر تر کوښښو دی
قربان
په مؤسسو کی دانو فکره ځوانان
د هر یو ځوان تر ښو فکرو دی
قربان
دانوی نسل چی دی اوس لوئیږی
د دغه نسل تر ځلمو دی
قربان
مور په شیدو کی مینه ستا ورکوی
د هسی مینډو تر شیدو دی
قربان
ولس مل ژوندی وقف کړی تا ته!
ستا تر ګوښو او کنارو دی
قربان

بناغلی دین محمد [سامی]

علم او لوړ تیا

هر ټبر لره په علم کښی لوړ تیا شته
چی خپل هان به نیکو روزی نیکبخت شی
مرد ئی بولم چی خادم دخپل وطن وی
ډاډ به ور کړم ای سامی تمام جهان ته
په وحدت خو پېژندل هم د الله شته
آدمی ته ښه کارونه په دنیا شته
د وطن د ننګ ساتلو کښی بقا شته
ماسره توره، توپك ننګ دبابا شته

ښاغلی [باور]

زما د فکر سرئې په زنګون لیکلی دی

تقدیر چې مې ازل کښې نوم پښتون لیکلی دی
ذلیل زما په برخه ئې ژوندون لیکلی دی
دنیا د بیداری کښې پر پوتلی یم مدهوش
راتګ زما دنیا ته ئې پرون لیکلی دی

نورخلګ په روڼو سترګو جهان ته کړی نظر
جهان زما د پاره ئې جنون لیکلی دی
دریاب د معرفت کښې خلګو بیا میندل ګوهر
دجهل دغرقاب سیند ئې جیحون لیکلی دی

انسان په کمالاتو په فضا کړی تجارت
زما سر ئې شکم ته سرنګون لیکلی دی
د خلګو کاروانونه شپه او ورځ کوی مزل
زما کاروان ئې خوب باندی مفتون لیکلی دی
آزاد فکر واصل کړله معراج ته نور عالم
زما د فکر سر ئې په زنګون لیکلی دی
خوشوقته بلبلان په آزادی کوی چغار
زما د زړه بلبل ئې جګر خون لیکلی دی

ښائست د سروګلانو تور زاغان کړه په نخا
بورا د ژیړو ګلو ئې محزون لیکلی دی
د علم برکت تورتم کړو رونه کړه رڼا
زما منور کور جهل واژګون لیکلی دی

نورخلګ دې جهان کې خوشحالی خنداهوس کړی
پښتون ئې دې جهان کښې لړمون خوړین لیکلی دی
د یو معدن جوهر یو په دفتر کښې د خلقت
هغه ئې جلوه دار دا ئې خړګون لیکلی دی

معلم که متعلم ئې په مکتب کښې د ادب
ژوندون زما په برخه چا زبون لیکلی دی
په پټه خوله مې بوی کړه چې بل کس نشی خبر
د خلاصی خولی بیان «باور» مظنون لیکلی دی

ښاغلی عبدالهادی
[خوږمن]

هغه شپه

چوغکی او نور پرندګان؛
هغه شپه وختی په ځالیو
ننوتی او چپه چپائی وه.
ورم او باد نه لګیدی
آسمان تاول ښه ډېر دخپله
ځایه راکښته شویدی؛ هوا

خپه او فضا دسهلو نه وه په
باغچه کی یو پاڼی هم نه
ښورېدی؛ ټوله نړی په یوه
سره سنا زنګیده.

✡✡✡

دې چپی چپائی ډېر
پایښت ونه کړ، یو څه
وروسته ځاځکی، ځاځکی
باران په اوربدو پیل وکړ
ټک ټک د ونو پر پاڼو
دانه، دانه باران اوربدی

لږ، لږ باد هم وخوځول.
هوا سړه سوه؛ توری تیارې
او دربی پر ټولو ګوتو
برستن وغوړول. تیاره هم
دغسی وه، د لاس ګوتی نه
معلومیدی.

هیچا نه سوای ویلای
چی داسی یوه شپه به څنګه
پای ته ورسیږی؛ ته واسهار
به سی، بیا به لمر راوخیژی

او دا تیاره نړی به په خپل ښکلی
مخ سره روښانه کی؟

ترڅو به ږغ او بروغ نه وی
تاچی ول پردې درستی نړی
باندې دګونګ ناره سوپده.

✡✡✡

د خونی وره پوری سوه
پردې کښته سوې؛ په باغچه کی
د ونو ځانګی کښته او پورته
کیږی، ته وا غواړی چی هینداری
ماتی کی او په خونه راننوزی
د باران لوی، لوی ځاځکی چی
هر پلا د کړ کیو څخه ومښلی
ته چی وا چا په لاس کړ کی را-
پوری وهل.

بېره او تیاره! دباندی را-
ووتم؛ اوه: لامی یوه پښه په خونی
کی وه چی باد راپوری وهلم او
دخونی په منځ کی ئې لکه چاچی
په ځاپېره وهلی یم وغورځولم
او خونی ور ئې په تاخت راپسی
پوری کړ.

پرټوله کور تاچی ول د ....
ساه ختلی ده؛ دباندی باران
باد او طوفان دی. دونډ ښاخلی
کړپ، کړپ متیږی یووار خړاپ
سی بیا درز؛ څه حال ؤ د کړ کیو
یوه پله می پورته کړه چی
وګورم دباندی باغچه پر څه
حال ده؛ مالا کړ کی ښه وه پورته
کړی چی د باد طوفان راغی او
کړ کی ئې په زور سره ووهله
هنداره ئې ولوېده اوزما دمخه

سره ریچی، ریچی سوه.
دباندی ونی او د سرو
ګلانو بوټی ددې سیلی د
صدمی څخه پر مځکه لوېدل
مځکی تاچی ول په وینو
سره کالی اغوستی دی.

✡✡✡

په پورته خونه کی یو
زوړ سړی پروت ؤ، دی بخپله
بخوله اخته او په خولو کی
ډوب دی، کله ستر ګی رونړی
کی او د کټه څخه پورته
وغورځی او کله ستر ګی
پټی کی یو څه ووایی او
پر پوزی، په ځان کی ئې
اور دی، پائې د اور کمیس
اغوستی دی. ددې زاړه د

کټ داړخه سره بود ښځه و یشتو
کالو ځوان ناست، ستر ګی
ئې سرې دی او یو څه وایی
زاړه ستر ګی رونړی کړې
خوله ئې سره ټوله کړه او په
ډېر زحمت ئې وویل:
څه مهال دی؟.
ځوان په سرو ستر ګو
ورته وویل: څلور بجی دی
اوس به دستی سهار سی.

معلومه ده چی زاړه
یوازی څلور واورېده نو
دتل د پاره بیده سو.
سپېدې وچاودی سهار
سو او یو ژړ، پیکه او بی
سیکه لمر راوخوت؛ طوفان

نور به ۲۱ مخ کی

د خندا !!! یاوښ

د محمد ناصر [نصرت]
ژباړه اوټولونه

بی پیسو وږی

یو سړی چی ډېر وږی او په جېب کی ئې یوه پیسه هم نه درلوده هوټل ته ورختلی، څو ډوله خواړه ئې راوغوښتل او چی ګرده ئې نوش جان کړه، هوټلی ئې راغوښتی ورته وئې ویل:

آیا یو وخت به داسی نه وی پېښه شوې چی یو څوك دی دلته ځان تر پزی موړ، او یوه پیسه دی ونه لری چی تاسی ته دی درکړی؟

هوټلی. یه.

بی پیسو سړی. که چیری یو وخت داسی پېښه سی څه به ورسره وکړې؟.

هوټلی. ما وویل چی داسی نه ده پېښه شوې!.

بی پیسو سړی. درست، اېکن ته ئې فرض کړه چی داسی پېښه شوه نو څه کوې؟.

هوټلی. بی له دې چی یو څو لغتی ئې ووهم او وئې باسم نو رڅه نه شم کولای.

بی پیسو سړی. دستی له ځایه ولاړ، او وئې ویل راسه، ما ووهه غواړم چی ولاړ سم.

د ملا نصر الدین ناروغی

یو ورځ ملا ناروغه شوی، او چی یوه ډله دوستان او آشنایان ئې د پوښتنی د پاره ورتلل نو هلته به ورته ناست او نه ولاړ پدل، آخر ملا ډېر په تنګ شوی د ناروغی پر بستر ټیك ودرېد او وئې ویل:

ملګرو! ډېر، ډېر شکر وکاږی، دادی خدای تعالی [ج] ستاسو ناروغ ته صحت ورکړ لطفا خپلو کورونه ولاړ سی.

✿✿✿

رشتیا ویونکی فقیر

یو سړی په کوڅه کی تېریدی چی یو فقیر ورناري کړه: یوه پیسه راکړه.

سړی جېب ته لاس کړی چی یو څه ئې ورکړه ځنی رهی شو.

فقیر چی وکتل دیوې پیسې پر ځای یو غران دی ګمان ئې شو چی سړی سهوه شوی، ډېری پیسې ئې راکړیدی، په ځغاسته پسی ورغلی ورته وئې ویل:

ښاغلی...! د یوې پیسې پر ځای دی یو غران راکړیدی.

سړی غران ځنی اخیستی او ورته وئې ویل:
څرنګه چی ستا د راستی او معقولیت حق تردې زیات دی، نو یوه اشرفی ئې له جیبه راایستلی ورئې کړه.

✡✡✡

خجالت

یو هلك د پلار په پټه شراب خوړل، خو پلار ئې پدې تلاش کی ؤ چی زوی یو داسی ځای پروویني چی دهغه دملامتیا دپاره بیاد بهانې ځای پاته نه وی.

یوه ورځ زوی او پلار داسی ځای سره مخامخ شول چی د زوی ئې د شرابو بوتل په لاس کی ؤ پوښتنه ئې وکړه.

پلار . دا څه شی دی ؟

زوی. شیدې دی.

پلار . شیدې خو سپینی وی او دا سره دی ؟

زوی . دا شیدې سپینی وې خو څرنګه چی تاسی ئې ولیدلاست له خجالته ئې رنګ سور شو .

پلار . له خجالته باید ته سور شوی وای نه شیدې .

✡✡✡

پوه طبیب

یو سړی خپله مور چی د ډېری کمزوری له امله پر لاری نه شوای تلای په زنبیل کی کښېنولې تر ډاکتر پوری ورسول چی د قوت دواء ورکړی.

ډاکتر ورته وویل چی دا باید ډېر محله تازه کوچی وخوری، یادی مېړه وکړی.

زوی ئې دغه خبره مورته کړې، او هغې ورته وویل:

زوی جانه ! ته په خپله فکر وکړه آیا زه غابښونه لرم چی تازه کوچی په وخورم ؟ وروسته ئې فیصله وکړه چی هغه مېړه ته ورکړی، کله چی د ډاکتر له ځایه راووتل مور یی و زوی ته مخ ورګرزولی پوښتنه ئې وکړه:

آیا دا پوه طبیب «لقمان حکیم» ؤ چی داسی ښه، ښه علاجونه کوی؟.

✡✡✡

د آشپز ځواب

یو سړی وغوښتل چی خپل آشپز ځواب کړی، آشپز ورته وویل چی:

زما ایستل ستا پرمادی او جسمی تاوان تمامیږی . ځکه کلونه، کلونه کیږی چی زما له ناکاره خوړو سره دی عادت نیولی لږ، لږ خوري او که چیری بل آشپز راولی چی تاسی ته خوندور خواړه دربرابر کړی نو طبعاً ډېر، ډېر خوري او حتماً ناروغه کیږی .

هغه شپه

د ۱۹ مخ پاته

او باران خپله قوه وپای ته رسولی او کراره کراری سوی وه.

یوار ددې کراری، کراری او چپی چپانی څخه د نارو، چغارو او کروډو ډغ پورته سو تاچی ویل تراوسه دې تیارې، شپی دوی نه پرېښوول چی ډغ پورته کی.

✡✡✡

ښه سو چی هغه ویرجنه او سهمناکه شپه تېره سوه که څه هم دکور سرغنه او مشر ئې وخوړ اوتورو خاورو ته ئې وسپاری.

د نفوسو ډېروالی او نوی هیلی

د ښاغلی عبدالصمد [فدا] ژباړه

د نفوسو د زیاتوالی په برخه کی بحث سمدستی په متباین ډول سره مطرح شو

په لومړی ګام کی کېدای شی چی د یوه بېساری خطر په حیث ، او بل د نوی امیدونو په رڼاکی ددغه پرابلم حل په نورو پاتی کلونو کی یعنی په اوسنی پېړۍ کی وشی ، او البته دغه هم سخته ده چی له دغو دوو موضوع-ګانو دی یوه مهمه او برجسته ښکاره شی .

ذکر شوی خطرونو په ټولو صنعتی دورو کی دوه پر درې د نړۍ خلک په وروسته پاتی هیوا-دونو کی تخنیك تر تهدید لاندی نیولی دی ، او دغه تهدید د سیاسی موقعیت د تثبیت سره ، سره بیا هم دغو هیوادونو پراختیا او توسعه کړېده .

حاصل شوی امیدونه د همدغه حقیقت پر مخ ولاړ دی چی اوس ئې نوی لاری چاری پیدا کړیدی .

نو که چیری نړۍ د دغی معضلې غوښتونکی وی او خپل ټول طاقتونه د هغه په برابر کی متمرکز کړی ، نو یقین دی چی ستایل شوی پرابلم د شلمی پېړۍ په دریمه برخه کی د حل صورت خپل ځان ته غوره کړی . دا ځکه چی اوس هغه عصر تللی دی چی پرابلمونه به نه مغلوب کېدونکی بلل کېدل د دغه امر تطبیقول زه له ټولو نه اول په وروسته پاتی هیوا-دونو کی تخنیك لازم بولم پدغه هیوادونو کی دغه سوال مهم نه دی چی هغوی پدې صورت کی د ترقی او انکشافات مدارج طی کړی او څونه شمېر خلك د دغه امر د ملاتړ د پاره ښایی چی پیدا کړی .

په اوسنی حال کی دغه هیوادونه په زیاته درجه سره فقیر او په اخیرنی درجه سره د تعلیم او تربیی څخه فاقد او د اجتماعی منظمو تشکیلاتو څخه بی برخی دی ، ځکه دغه عوامل موجب شول چی هغو د علم او د خپلو نویو معلوماتو څخه استفاده نشی کولای او هغوی مجبور دی له هغه ځای څخه اوس په کار پیل وکړی او نه له هغه ځای څخه چی د هغه آرزو لری . د نړۍ واقعی پرابلم دغه دی چی د نفوسو ورځ په ورځ زیاتېدل د هغوی د اقتصادیاتو د پرمختګ او پېشرفت مانع دی او دغه یو دایمی خطر دی چی بشر د عالی هدفونو له منظور څخه لیری لری له دې جهته نو اساسی سوال دادی چی څنګه به دنیا وکولای شی چی د دغه ورځ په ورځ زیاتېدو مخنیوی دی وکړی او خپل ځان ته دی د معنوی او مادی پرمختګ لاره هواره کړی اوس دغه حقیقت څرګند شویدی چی د نفوسو د زیاتوالی مخنیوی زیات مدرکونه او نیازمندی غواړی .

ډېر له پرمخ تللو هیوادونو څخه د نفوسو خاوندان دی چی په کال کی لږ تر لږه ۵ یا ۳ فیصدی زیاتوالی په هغو کی صورت نیسی د دغو هیوادونو د نفوسو د لږ زیاتوالی موجب نه وارسی کېدل د صحی چارو او د صحی شبکونه تنظیم کېدل دی ، البته د صحی سرویسونو زیاتول د نفوسو

زیاتوالی چی بېساری چټکتیا سره صورت ښایی چی ونیسی .

پدغه صورت کی د نفوذ زیاتېدل په پنځو اودرو او حتی زیات نه ښائی چی ترقی دی وکړی او د نفوسو د زیاتېدو ادامه په اندازه د ۵ او ۲ فیصدی د نفوسو ټوله شمېر ئې د ۲۸ کالو په موده دوه چنده شویدی او دهغه د زیاتوالی اندازه به د موجوده شمېر په سلو کی ۵ یا ۳ د سلو کلونو په ظرف دوه برابره ښائی چی ودی شی .

ترهغه وخته چی د نفوسو د چټک زیاتوالی مخه نیول کیږی وروسته پاتی هیوادونه او تخنیک د نفوسو د لوی مشکل په مقابل کی دوه چنده به لاس په ګرېوان وی او په کار ده چی د اوسنی پېړۍ ترختم پوری د دغه پرابلم د حل په فکر کی ولوېږی، پدې معنا چی ذکر شوی هیوادونه د هغو ماشومانو د پاره چی په راتلونکی کال کی زیږی درست پروګرامونه تهیه کړی او د مخ نیولو لاری نه د پرورښت په وخت کی هغوی ته ورزده کړی .

☆☆☆

د زیږېدلو او مړو

ترمنځ عدم تناسب

په یوه ژور نظر سره کولای شی چی د نفوسو د چټک زیاتوالی منشأ پیدا کړه شی په اوسنی نړۍ کی د تولیداتو موضوع په زیاته پیمانه سره لوړه تللی ده او له بل پلوه د مړه کېدولو موضوع ورځ په ورځ مخ په لږېدو ده د مثال په ډول باید وویل شی چی اروپا په ۱۹ قرن کی د دغو هیوادونو نفوس په ډېر مشکل په کال کی په سلو کی له یوه څخه تجاوز کاوه او وروسته له دې دغه اندازه و ۳۵ تنو ته په مقابل کی د یو زر و تنو تجاوز وکړی او د نن ورځی په مخ پر انکشافه هیوادونو کی د تولداتو اندازه په عمومی ډول ۴۰ تنه د ۵۵ کسو په مقابل کی ده .

د دغه اختلاف علت عمومیت پیدا کړی او د ازدواج مسئله د دغو هیوادونو د ځلمو په منځ کی ده چی اکثره د هغوی د نوی بلوغ په سنینو کی و دغه کار ته اقدام کوی او د دغه هیوادو ځوانان کله چی و ۴۰ کلو ته ورسېدل د ۸ یا زیات ترهغه د ماشومانو څښتن وی .

☆☆☆

د زیږېدو او

مړو ترمنځ نسبت د دقت قابل دی

په ۱۹ پېړۍ کی د اروپا مړی ۲۵ تنو په مقابل کی د هر لسو زرو یو عادی امر ؤ او که چیری دغه شمېر بیا ۳۰ ته رسېدلی وای نو غیر عادی تلقی کېدی او د نن ورځی پر مخ تللو هیوادونو کی ۲۵ تنه ډېر لوړ دی او ۲۰ نفره یو عادی شی ګڼل کیږی او دغه شمېر په همهغه ډول کښته راغلی دی او ۶ تنه په مقابل کی د یو زر تنو کښته دی، د دغه تنزیل لوی علت د ارقام د امکاناتو مساعدول دی چی و منځ ته راغلی دی . د سلفاد انتی، بینو تیک دواوی او د حشراتو ضد دوا ډېر له دغو ناروغیو څخه تر کنټرول لاندی رواستی دی د ډېر ژوند یا د اوږده عمر آرزو د د قابل توجه په ډول په ډېرو هغو هیوادونو کی چی مخته تللی دی تحقق ئې پیدا کړیدی او نن ورځ په ځینو سیمو کی عمر تر ۶۰ کالو څخه زیات تېری کوی او دغه ارقام نسبتاً د امریکا و متحده ایالاتو ته چی په هغه ځای کی د ژوند اوږدوالی له ۷۰ کالو څخه زیات دی په هغه اندازه فاحش فرق نلری یو له مهمو د لایلو څخه د مړنی لږوالی په یو شمېر مخ پر انکشاف هیوادونو کی زېږېدو میزان د هغوی د ځوانانو د تمایل په اثر د واده مصرف ډېر لوړ تللی دی چی

البته دصحی سروېسونو فعالیت په امرکی بی تأثیره نه دی .

دمثال په ډول په ټایلنډ کی د مړینی شمېر نسبتاً و امریکا ته لږ دی او همدغه راز دسیلون د هیواد د مړینی شمېر نسبتاً

فرانسی او انګلستان ته کم دی ګذشته له دې دمړینی دلږوالی علت یوه تاریخی جنبه لری چی په یوه سلسله او دامنه دار فعا-

لیتونو په دغه کارکی د صحی شرایطو ښه کېدل او د نویو لارو څخه استفاده د ناروغیو د کنترول سره یوځای دی .

او البته دغه به غیر عاقلانه وی چی د نفوسو چټك تقلیل د شلم قرن ترختم پوری په سلو کی

د یوه آرزو ګرځو اوس ددغه میعار اندازه طبیعی زیاتوالی په امریکا کی دی .

مخ پر انکشاف هیوادونه دغیر مترقبه واقعاتو ماسیوا او دصحی شرایطو د ښه کېدو په صورت کی کولای شی چی د خپلو نفوسو

زیاتوب چی اوس په ۱۰۰ کی ۵ یا ۳ دی په راتلونکی وخت کی په ۱۰۰ کی ۵ یا ۳ لوړ بوزی په یو فیصد یا ۵-۱ فیصدی د اوسنی

پېړی ترختم پوری تقلیل کړی ددغه تصمیم ارزښت پخوا تر هغه چی د تعلیم او تربیی او تولیداتو زمینه مساعده کړی په هغه وخت

کی به نو څرګنده شی چی دغه قضیه په دوو بېلو، بېلو لاروسره حل شی .

نو هر کله که یو هیواد خپل تولیدات په کال کی په ۱۰۰ کی ۵ زیات کړی (هغه معیار چی بی طاقته هیواد

دهغه قدرت لری) او د نفوسو زیاتوالی به په ۱۰۰ کی ۳۰ په کال کی بالغ شی . او عایدات ددار نګه هیوادونو

پر یو نفر په ۱۰۰ کی ۲ ښایی چی لوړ دی او دغه دامفهوم ورکوی چی عمومی عایدات د اوسنی پېړی تراخیره تر

دوه چنده ښایی چی زیات دی نشی او د ۳۵ راتلونکو کلو په ظرف کی دیوه نفر عاید په کال کی له یوسل

ډالر و څخه و ۲۰۰ ډالرو ته ښایی چی زیادت پیدا کړی مګر په عین وخت کی به نفوس ۲-۷ فیصدی ښایی لوړ ولاړ

شی او پدغه حساب موفقیتونه به ۲-۷ فیصدی ارتقا وکړی پداسی حال کی چی یوزیات شمېر خلك به ددې باوجوده

چی سرشار منابع او تولیدی وسایل به هم ولری بیا به هم دلوږی او فلاکت په حال کی ژوند سرته رسوی . د نړی په نفوسو ډ کو سیمو کی

پرابلم له دې څخه هم تکلیف ورکونکی دی .

دمثال په ډول دهند جمهوریت ذکر کوم: ددغه هیواد د نفوسو زیاتوب چی عبارت د ۴-۲ فیصدی څخه دی، چی د شلمی پېړی تر

پای پوری دهند نفوس چی اوس نیم بلیونه دی و یوه بلیون ته ښایی چی ورسیږی، اوهند پخوا د پخوا څخه د غلی کمبوت د

موضوع سره مخامخ دی د هند کرهنی په ناامیده توګه بهبود کړیدی نو هروخت که د هند نفوس دغه اوسنی میعار وساتی

په هغه صورت کی نو د مځکنی تولیداتو د زیادت دپاره ډېر فعالیتونه په کاردی یو بېساری چټکتیا چی هغه هم د تیورکی،

تخنیك، کرهنی د انکشاف په برخه کی لازم دی څو چی هند وکولای شی دخلکو دورځ په ورځ زیاتېدونکو نیازمندیونه مثبت

ځواب ووایی . له دغو لاروڅخه په کاراچول د تولیداتو زیاتېدل لږ کړاو ایجابوی او له غنی لاری څه د تولید موازنه د تخم د تهیی

دلاری د ترانسپورټ ښه کېدل او د پوره تسهیلات د نباتی ناروغیو کنترول او د رکورد عملی کېدل

کولای شی او البته دغه سیستم د ډېرو کسانو ایجاب کړی، نو هروخت که د هند نفوس خپل

زیاتوالی ته ادامه ورکړی په دغه صورت کی نو دهندهیواد بنائی چی مجبوره شی چی د نیم بیلون نورو خپلو خلکو د پاره په (۳۹) راتلو نکو کلو نو کی د هیواد په دباندی کی دخوراکی موادو په لټه کی شی .

او البته دغه موضوع د سیاسی نظره دغه راز یوه ماتی ګڼل کیږی له دی جهته هیواد چی د بیکاری په ناروغی باندی اخته دی .

د نیم بیلون نورو زیاتولو په صورت کی نو د کار پیدا کیدل او دهغوی د اعاشی او آباتی په برابرولو کی مشکلات مخکی راځی نو که چیری سیاسی موضوع حل نه سی په هغه صورت کی نو دغه خطر یوه بله بڼه ځان ته نیسی او د یوزیات شمیر خلکو سرانجام به د فلاکت او بربادی سره مخامخ شی او دغه نو خطر دی چی ډیر د نفوسو ډکو هیوادونه لکه هند، پاکستان، انډونزیا، د عربی متحد جمهوریت، او د ولسی چین جمهوریت له هغه سره مخامخ دی .

✡✡✡

راتلونکی خوش بینی

د تیرشوی اظهاراتو له نظره مشکله ده چی موضوع د خوش بینی تر مطالعی لاندی ونیول شی ولی په دغه ځای کی ځینی علامی او شواهد موجود دی چی کیدای شی چی په هغه سره مطمئین شو او دا په هغه صورت کی امکان لری چی د نړی خلک ټوله اصلی خطرونه احساس کړی او د هغه د منځه وړلو د پاره خپلی منابع او انرژی په کار واچوی .

مونږ او س داسی اساسات په لاس کی لرو چی وکولای شو د تولیداتو په تقلیل کی په یوه بله دهه کی مطمئین شو د د ته جمعی فعالیتونه باید په د واړو ساحو کی یعنی اقتصادی انکشاف او د تولیداتو د زیاتولو مخ نیوی عملی شی د مثال په ډول په شلو یا دیرشو راتلونکو کلونو کی به د هغه نتیجی په محسوس صورت سره څرګندی شی پدې امید لرونکی قضاوت څلور لاندنی اصله مهم دی .

۱:- ملی پر مختګ، فاملی اصلاحات (پلاننګ فاملی) .

۲:- د خلکو موافقه او علاقه د تولیداتو په کنټرول کی .

۳:- د (بحروری) پر ضد د لاری توسعه .

۴:- د حقایقو موجودیت چی د ختیځ خلکو د لومړی ځل د پاره د تولیداتو د کنټرول په پروګرام کی ګډون وکړی دغه د ی پر پورتنی څلورو اصلو باندی په لنډول سره رڼا اچول کیږی .

لس کاله پخوا هند لومړنی هیواد و چی ملی پالیسی ئې د اصلاحی پروګرامونو د پروګرام د پر اختیا د پاره قبوله کړل د دې با وجود چی په څولو مړیو کلونو کی دغه پلان پر مختګ ونه کړ .

نن ورځ قریباً د نړی نیم نفوس د هغو هیوادونو تر تسلط لاندی دی چی هغوی کورنی اصلاحی پلانونه تر لاس لاندی نیولی دی او دغه هیوادونه د ولسی چین جمهوریت، نیپال، پاکستان، هند، سیلون، ملایا، انډونیزیا ځخه دی په ځینو برخو کی د دغو هیوادونو فعالیت چټک نه دی لکه سنګاپور، هانکانګ، تایوان، جنوبی کوریا، ایران، ترکیه عربی متحد جمهوریت، تونس، المغرب، کینیا، باریادوس، جمیک، او هندوراس ډیرله نورو هیوادونو څخه لکه کولمبیا، او چلی خپل ملی او حکومتی پروګرامونه په فعال ډول وړاندی بیانی او په نورو برخو کی د ځینو هیوادونو اساسی فعالیتونه، په

پوهنتونونو، ملی روغتونونو او په صحی او محلی څانګو کی جریان لری .

دغه هیوادونه عبارت دی له ټایلینډ، فلیپین، انډونیزیا څخه دا هم باید ذکر شی چی حکومتی پالسی په یوازی سره نسی کولای چی د مؤثرو پروګرامونو تضمین دی وکړای شی او هم دغه سبب دی چی د یوې پالیسی د قبول او د مؤثر کار د شروع کیدو تر منځ تل یوه فاصله موجوده ده .

حقیقت همدادی چی پر مخ تلونکی هیوادونه که غواړی او نه غواړی لدغو دوو مهمو موضوعګانو یعنی د نفوسو زیات والی او اقتصادی پلانونه پر مختګ سره به مخامخ شی دا لدې جهته چی د نفوسو زیاتیدل د انکشافی پلانونو د پاره ستر مانع په دغه ډول هیوادونو کښی پیژندل شویدی .

د دغو هیوادونو ورځ په ورځ ویښوالی او خبرتیا د ضروری پرابلم په درک کی په ډېر چټکتیا سره صورت نیسی چی البته د دې حقیقت موجودیت د امیدونو پانګه ده .

☆☆☆

عمومی موافقت

د کورنی پلانونو په پر مختګ کی

دوهمه خوش بینی د نفوسو د زیاتوالی په مخ نیولو کی داده چی وګړی دوړوکو کورنیو په جوړولو کی خپل تیاری ښکاره کړی د دغه حقیقت پیدا کیدل د تعجب وړ دی .

لدی سببه چی د منعنوی مځکو د ویشلو لارښوونکی مخکی راپور ورکړی دی چی د زیادو ماشومانو د نه لرولو په منظور حرکت په ډېرو وروسته پاتی هیوادونو کی په مطلوبه جریان کی قرار نه لری . او هغوی د دغه کار علت د ژوند طرز، رسم او رواج مذهبی عقیدی او د کورنیو نظم او ترتیب څرګنده وی چی له اوږدو کلونو څخه ئې لاس ندی خوړلی او پر خپل باقی پاته دی مګر نوی سروی چی پدې برخه کی منځته راغلی دی د هغوی خلاف ئې ثابیت کړل هغه سروی چی په شلو بیلو بیلو مخ پر انکشاف هیوادو کی صورت نیولی دی ښکاره کوی چی اکثره نوی فامیلونه بېله کومی استثنا څخه د ماشومانو د محدودیت غوښتونکی دی او دغه تمایل نه یوازی په ښارونو بلکی په کلو او لیرو قصباتو او هم دغه راز د باسواده او بیسوادو په منځ دغه ډول لیدل کیږی .

اکثره ښځی آرزو نه لری چی له ډېرو زیږدولو مخنیوی وکړی پدې مفهوم چی ډېری د هغوی د دؤیا د روماشومانو غوښتونکی دی او دغه تمایل په هغو سیمو کی لیدل کیږی چی په هغه ځای کی نوی ژوند په پوره ډول سره لار نه وی پیدا کړی .

تر شا پاته جامعی له ټولو اول د خپلی مادی ژوند د ښه کیدولو په فکر کی دی او لږ د پر مخ تللو هیوادونو د افرادو د ژوند تقلید کوی چی البته د هغوی یوازنی علت لوږه او فقر دی چی د فکر وهلو مجال ئې له هغوی څخه سلب کړیدی مګر د نیکه مرغه دغه رکود او خمو د زیات لدی څخه دوام نسی کولای لدی سببه چی اوس د کلیو خلګ له یو شمیر عصری وسائیلو لکه سینما، ټرانزیستور راډیوی ښوونځی او غیره برخور داره دی .

که دوی غواړی او که نه غواړی د نوی ژوند سره ئې علاقمند کوی اوس د کلو او سیدونکو یقین پیدا کړیدی چی د هغوی ماشومان په وړکتوب کی نه مری او مدهشه

ناروغی قادری پردی ندی چی دهغوی نوی نسل دی له منځه یوسی همدغه ډول دوی متیقین دی چی زیات ماشومان وزیاتی غذا او ډېری روزنی ته ضرورت لري همدغه راز هغوی وینی چی دمډرنو کورنیو جوړول نسبتاً هغو فامیلو ته چی دازدحامه ډکوی دښو صفتونو او مزایاؤ څښتنان دی او دمډرنو کورنیو ماشومان دخپلو والدینو مراقبت دهغوی دزړتوب او ناتوانی په ورځو کی ښه کوی .

ټولو دغو عواملو یو دبله لاسونه سره ورکړی او ځوانی مېرمنی دعدم بهره وری اساساتو خوش بېنی کړیدی لکه څنګه چی له هغه تسهیلاتو څخه په لازمو وختو کی استفاده کوی حامله سروی ګانی دخلګو دعقیدی تغیر کول ښه ترا واضیح کوی چی البته دغه حقیقتونه د امیدواری مایه ده په ډېرو جوامعو کی خلګ دماشومانو د شمیر د مخنیوی دپاره په خاموځایو کی له هغوی څخه استفاده کوی او علاوه پردی په ډېرو ځایو کی له هغو هیوادونو څه چی منظم سرو - یسونو عدم بهره وری اوږه په اوږه اطلاعات او مؤثر وسائیلو په کار شروع کړیده چی ښی نتیجی ئې په وجود راوړی دی . په هغو ځایو کی چی بی علاقه ګی لیدل کیږی .

دهغوی یوازنی علت نه درلودل دکافی سرویسونو او د تبلیغاتو عدم فعالیت دی چی نسی کولای دخلګو پاملرنه ودې کارته وګرزوی .

بایدداهم وویل شی چی دخلګو دنه علاقی مسئولیت زیات متوسطی طبقی او د کښتو رتبو مامورینو ته متوجه دی ځکه هغوی فکر کوی چی بزګران بېسواده دی او دخپل دې پرابلم پر تشخیص قادره نه دی پداسی حال کی چی ددغی ادعا د تجربی عکس ثابتو څرنګه چی بزګران او دهقانان په لږ بحث سره خپل تاوان او ګټه تشخیص کولای شی او دهغه په علاج کولو پسی هڅه کوی او پدغه کار کی حتی نسبت ومتوسطه طبقی ته د کښتو رتبو مامورین پیش قدمه دی .

دریم حقیقت د تخنیک پراختیا او انکشاف ته نه توسعه ده ددوو وروستیو لسو میاشتو مادی نوی لاری کشف کړیدی چی له هره حیثه محفوظه، ارزانه او مؤثری دی او دغی لاری دلومړی ځل دپاره زمینه مساعده کړل چی ځوان مېړه او مېرمن له نژدې والی څخه احساس دوېری او وحشت ونه کړی .

☆☆☆

نوی تخنیکونه

د پلاسټیکی متود تطبیق په سلو کی ۵۵ یا ۶۰ ښځی دزیږیدلو دعمل څخه کاملاً مطمئین کوی او څلویښت او یا پنځه څلویښت فیصده باقی پاته په هغو ښځو باندی شاملی دی چی یا ئې مړونو مړه او یا غوښتونکی دیوه ماشوم دی، او یادا چی ونورومېتودونو ته ترجیح ورکوی .

پردې بناء شل فیصده نور ددغی لاری تحمل نه لری او یادا چی له هغه څخه احتراز کوی د هغو مېرمنو له ټل څخه چی ددغی لاری پیروی کوی یوازی ددوی یا درې ښځی دسلو تنو په برابر کی مجبوره کیږی .

چی دیوه کال په ظرف د پلاسټیک په بیا تطبیق کولو باندی اقدام کوی او دغه البته نېمی د صنایعاتو څخه دی چی په عملی کولو د بهره وری اقدام کوی .

لازیمه هدایتونه وروسته د عملی تطبیق کولو څخه صورت نیسی .

(نوریا)

د خارجي منابعو څخه : د عبدالله ژباړه

هغه ښځه چه مېړه ته ئې خیانت کړی دی

د کلي د کوڅې څخه چې د خټو د کوډلو په منځ کې اوږده شوې وه، ېوه ډله خلګ په وحشي ږغ او عجیب ډول په حرکت کې وه. د خلګو لویه ډله کرار، کرار مخ ته تله او لکه موج په خروښ کې وه په مخ مخ کې یې یو بدشکله او بد ډوله آس سر کښته اچولی ګوډ، ګوډ ئې ګام اخستی.

کله چې به ئې یوه پښه پورته کول پداسې عجیب طرز به سر ښوراوه ته واغوښتل ئې چې خپل بدشکله او ربوز د کوڅې په خاورو ننه باسي او همداسې چې پښه به ئې پر ځای کښېښول اوږه به ئې پوره ومځکې ته نژدې کیدل او داسې معلومیدل چې همدا اوس به پوړ مخې پر مځکه ولوېږي دیوې کوچنۍ (ډنګرۍ) او کاملاً لڅې ښځې چې پوره و ېوې نجلۍ ته ورته وه لاسونه په تناو په ګاډۍ پسې تړلي وه.

دا ښځه په یوه عجیب ډول پر لارې تله، تا به ویل چې پر بغل مخته ځي سر ئې چې ګڼو او ببرو طلائي ویښتانو پوښلي ؤ و راپورته شوي او لږ د شاوخوا ته کوږ شوي ؤ. سترګې ئې خلاصې کړې او په ېوه احمقانه او ګونګي او نامفهومه ډول ئې وهغه لېرو ځایو ته کتل.

د دې په کتلو کې د هیڅ انساني کتنې اثر نه لیدل کیدی. د دې ټول بدن شنو او سر وټپلو چې ګردي او بېضوي شکل ئې درلود پوښلي ؤ د دې چپه تې هم ټپ خوړلي ؤ، او د زخم د خولې څخه وینې بهیدلې ... د وینو لېکلي د دې پر نس او کښته تر چپه زنګانه پورې سره رېښکه جوړه کړې وه. او د پښې پونډۍ ته نژدې د نسواري رنګه دوړو او خاورو د پنډۍ طبقې شاوخوا ته ورکیدله.

داسې معلومېده چې ېوه نرۍ او اوږده رښکې د دې ښځې د بدن څخه جلا شویده، نس ئې په یو عجب ډول پړسیدلي او ټوله سطح ئې شین رنګه سوي وه، لکه چې ډېر عمر ئې په لندولښتو پر نس وهلي وه. د دې ښځې ښایسته او کوچنۍ پښې په ډېر زحمت د کوڅې په خاورو او دوړو کې یو د بل پسې څکېیدلي، بدن ئې کږېدی، رېږدېدی او په هیڅ ډول معلومه نه وه چې څنګه ئې تر اوسه لاپردی زېږدېدلو پښو چې لکه د بدن نورې برخې ئې په شنو ټپلو پوښل شوي وي خپل ځان تکیه کړیدی او ولې د مځکې پر مخ نه لوېږي او همدغې چې لاس ئې په ګاډۍ پورې تړلي دي

پر توده او خاورو ککړه مځکه نه کشیږي ... څو پر ګاډۍ باندې یو جګ بزګر چې سپین کمېس او توره شو کلاه ئې پر سر وه (شب کلاه) ولاړ دی. د شو کولاه د لاندې

څخه ئې د سر و وېښتانو حلقې راوتلي او لکه تارونه پر تندي باندې ئې لوېدلي دي، په یوه لاس ئې د آس جلو او په بل ئې شلاخه نېولې ده. او په ېوه ټاکلي ږغ ئې یو

وار د آس پر تشي او یوه پلا د ښځې پر اوږه چې د ډېرو شلاخو خوړلو څخه ئې خپله انساني بڼه بایللې ده وهي. د سور ویښته بزګر سترګې د وینو په شان سرې دي او

د ېوې کین جویانه کامیابۍ وړانګې پکښې برېښي. وېښتانو ئې یوه روښانه ژړ رنګه سایه پیدا کړې ده، د

کمېس لستوڼې چې تر څنګلو ئې پورته کړیدي د ده قوي په ګڼو او سرو وېښتانو پوښلي لاسونه ښکاره کوي.

خوله ئی خلاصه اودسپینو تیروغاښو څخه ډکه وه، کله، کله بزګر په یوه نپولی آواز چغی وهی :

- ښه... جادوګری! ها ! ښه، آها؟ یو ! په ګاډی پسی چی ښځه په هغه پوری تړل سوېده، خلګ لکه خروښنده څپې په حرکت کی دی اود بزګر د آواز سره چغی وهی او بزګر و شلاخو وهلو ته تشویقوی .

کوچنیان لخی پښی ځغلی ... کله یو له دوی څخه مخ ته ځی ، د ښځی ومخ ته خپل سر ورنژدی کړی اوڅه د پسخند خبری ورته کوی .

هغه وخت دوری ډلی دخندا آواز دشلاخی په بره هاری چی وهواته پوری کیږی آرام اوخپه کیږی ... ښځی په قهر یدلو او غضبنا کو ښوځی ، په ستر ګو کی ئی دخوښی اورضایت وړانګی ځلیږی ... سړیان هم رهی دی او کله کله په لوړ آواز هغه چا ته چی په ګاډی کی ولاړ دی پوچی اوسپکی خبری کوی ... هغه بیرته دویونکی وخواته راګرځی خوله ئی خلاصه پاتیږی او قاه قاه خاندی، دچلاخی واری دښځی پرنازك اولخ بدن راشوه کیږی .. نری او اوږده شلاخه دښځی پر اوږو پیچل کیږی او په بغل کی ئی تکیه کیږی ... هغه وخت چی بزګر ښځه لتوی شپلاخه په زور دخپل ځان وخواته راکشوی .

ښځه دزړه څخه یوه چیغه راپورته کوی بیرته د شاوخوا ته ځی او پرمـلا د خاورو پرمخ لویږی ... د ډلی ډېر کسان ددې خواته ورځی ، پرمخ ئی کږیږی او په خپلو بد نو سره داپټوی .

آس لږدریږی، خو ترلږ ګړی وروسته بیا په تګ سره شروع کوی اوبی چاره ښځه دپخوا په شان زخمی او بی واکه په ګاډی پسی رهی کیږی .

غم لړلی آس همداچی کرارګام پورته کوی خپل بد شکله سرښوروی، ګواکی غواړی ووایی :

- حیوان کیدل څو مره پست او ټیټ دې ځکه چی په هرشر منا که او پست کار کښی ئی اشتراك ته مجبوره کولای شی .

خو آسمان ، د جنوبی مځکو آسمان پوره صاف اود اوریځو هیڅ لکه هم په هغه کی نه لیدل کیږی .

لمر په ډېر سخاوت خپلی سوځونکی او زرېنی پلوشی شا ؤ خوا ته خپروی .

☆☆☆

ما دا داستان دحق او عدالت د فرشتی د اشارت نا که تجسم او تعقیب په سبب ندی لیکلی .

نه ! متأسفانه چی دا کنایه او اشاره نه ده، بلکه ددې صحنی نوم مکافات دی .

مېړه خپله ښځه چی وده ته ئی خیانت کړی دی داسی ترلی .

دا یوه حقیقی اوعادی صحنه ده چی ما د (۱۸۹۱ م) کال د جولائی پر (۱۵) د «کانه بیوکا» په کلی کی د «خرسرن» په ایالت کی پخپلو سترګو ولیده .

(پای)

داستان

[بزګر]

دژوند یوواقعی اړخ

د انسان شرافت په دنیا او نسب سره نه دی

(روکیا) بېله یوې موربل داسی تیرونی او په زړه پوری دوست نه لری، پلار ئې په وړکتوب کی لاځنی ورك شویدی، سره لدې چی دیوې هسکیر لی او کالی مېنځونکی ښځی لورده، خو ددې، اخلاق، سپېڅلتیا او ښائست ډېر خلك پدې راضی کړی دی چی دکاله مېرمن دی سی دمور ئې هم داهیله ده چی دیوه بډای سړی وکورته دی ور واده کی چی هم ئې لور پر آرامه او په ښو او ښادیو کی پټه شی او هم دا د لور ترسا ئی لاندی هوسا اولدې ډېر وځغستاؤ څخه په امان شی .

څوورځی وروسته ئې روکیا د (شامك خان) ومشرزوی ته ورکړه ، ځکه چی د (شامك خان) له کوره پرله پسی مرکی ورته کېدلی .

(شامك خان) په ټوله کوڅه او محله کی په ګوته نښانی سړی دی ، پر لمانځه او مسجد خورا ټینګ دی، لکه هانوم چی ئې دی شتمنی ئې هم هغسی، او دسوداګری دبدبه ئی په ټولو ګاونډیانو کی پرته ده، همدا سبب ؤ چی استا د (نجلی مور) پدې راضی شول چی لوردی د (شامك خان) ومشرزوی (کولالا) ته ور په نکاح کی د نجلی مور په استا ځکه مشهوره وه چی د لېری او نیژدې کورو وماشومانو ته ئې د پښتو او عربی کتابو سبق وایه .

واده په ډول او نغاره وپای ته ورسیدی روکیا د واده په لومړیو ورځو کښی ډېره خوشاله ده او مېړه د پاچا ګلی نوم پرور باندی ایښی دی، خو پسله څه عمره ئې هغه نوم او هغه نازله مېانځه ولاړ، د روکیا ژوند خورا تریخ او نه ګالونکی شو نه یوازی کولالا د مزدوری د لور په نامه ورته وائی :

بلکه د کورلویان او واړه ئې د مزدوری لور بولی او ورته وائی : چی موردی دیوې وچی ګولی ډوډۍ د پیدا کولو لپاره دښار څلور کونجه په تراټ غواړی .

روکیا خواره بېله دې چی څه دی ورته ووائی پټه خوله وی او کله چی ئې بیخی په عذاب کی نو دا هم مازی دونه ورته وائی : زه چی تاغوندی مېړه اوستا د پلار پشان خسرلرم نو خود به می مور د نورو د کورو مزدوری کوی .

مځکه سره ده: دی پرشپه ده، له هغې ورځې راهیسې چې روکیا د (شامک خان) په کور ور ننوتلې ده پر (شامک خان) له آسمانه اوري او د مځکې ورته رازیږي په لږموده کې ئې پیسې

ترچند ووتې کوټې ئې پیدا کړل موټر سیکلان شول، شل دیرش دکانه ئې رانیول، خو (استا) خواره د پخوا پشان چاته شیان له بازاره راوړي، دځینو پلنډې چلوي، کورونه ئې پاکوي چې ډوډۍ او کالي پیدا کې د شامک خان

تجارت دونه پراختیا پیدا کړه چې دښار ټول واړه تجاران ئې پوروړې دي او پر هر معامله دار ئې په زرهاؤ، زرهاؤ افغانۍ ولاړې دي، خو اکثره ئې ډېوالیان شول، دکانونه ئې خرڅ

کړل د کار سامان او که څه یو جنس ئې درلود هغه ئې پر بازار کړ ترڅو چې ئې د شامک خان له پوره غاړې خلاصې شوې له ډېرو معامله دارانو څخه مې اوریدل چې مال په دونه لوړ قیمت ور باندې خرڅوي چې د دکان خرڅ نه پکښې ور لویږي.

د شامک خان هوا د پیسو په ډېریدلو سره بل شان ته سوه، د روکیا ناسته: ده په کاله کې عار بلل کیده، نو ئې د طلاق په سر ښته پسې سو، کله چې وروکیا ته د طلاق خبر ور ورسیدی، تر ژوند ئې مرګ غوره کې چاړه پلاس کې وزیر

خانې ته ولاړه او پر غاړه باندې چاړه راکش کړه (شامک خان) ته د روکیا د خودکشۍ خبر ور-ورسیدی او په منډه ئې ځان ور ورساوه، ګوري چې په رشتیا د روکیا پلاس کې چاړه ده

او خپل شیرین ژوند وآخرته په رسوي. ده په وچ زور چاړه دلاسه ځنې وکښل، د روکیا له غاړې نه څک، څک وینې توئیږي او د ژړا په وېړه خوله ئې ورته وویل:

«راکې چاړه، ژرشي چاړه راکې نور دا ناښاد او په وېر لړلې ژوند نه غواړم، ښه دی چې

زما د مور او زما پشان د نورو میندو د عبرت باعث وګرځم چې خپلې لوڼې یوازې او یوازې د دنیا د پاره په داسې کړاؤ کې ونه سېځې او پسې اضافه ئې کړل، ګناه مې څه ده، پر دروم که پر دیوا له مورته به مې هم څه غوټکۍ نوي ور کړي

خوله دې شیانو څخه مو هیڅ ندرا پکښې لیدلې تش پدې ګناه کاره یم چې د مزدوري لوریم؟ داسې نه چې زما مور له اوسه څخه مسکینه ده بلکه له هغه وخته څخه چې تاسې غوښتلم د دې دغه حال ؤ».

شامک خان لدې خاطرو چاړه نه وه ځینې اخستې چې د روکیا مرګ ورته تریخ ښکاریدی خو د خلکو له خبرو او پیغورونو څخه ډاریدی ځکه چې ټول همسایه ګان د نجلۍ په بده ورځ

او د دوی په ناوړه رویه او ناروا کارو خبروه له یوې خوا د نجلۍ د خودکشۍ اقدام او له بلې خوا د (استا) د مرکې فعالیت شامک خان له طلاق څخه را وګرځاوه.

روکیا د دؤ لوڼو مور شوه خو لکه د رمخه په هغسې سره اورکې ژوند ګالې د مېړه ډېر

ناوړه او لعنتي کارونه ئې تل مدام لیدل خو دې بېچاره او بدبختې لدې خاطره ږغ نه کاوه چې د طلاق موضوع ورته په مخکښې پرته ده.

لت او وهل ئې د حیوان په څېر خوړل، یوه ورځ ئې په ګډوه په زړه کې وویشتل ځای پر ځای بېهوښه غوځاره شوه، کولا لاژرو خپلې مورته ورالا کړه او په نیولې نفس ئې ورته وویل: هله ژرسه آد ګوره لورمې مړه کړه.

کله به لېوره وهل او کله به ئې د کور په ښځو سره لتول خو بیا هم د افلکزده پدې ټولو خواریو او وهلو قانع وه او طلاق ئې د خپل

شرافت اووجدان سپکاوی ګاڼه . آخر پردوی باندی ټولی لاری ټپی شوی ټول چالونه ئی خلاص شول. او پدې وپوهیدل چی مرګ ئې خوښ دی نه د اچی په طلاق له کوره وو ځی .

یوه ورځ کولالا ورته وایی :

له ټولو ښځومی د زرو شیان اخستی دی ستا هغې هم راکه چی د تجارتخانی په تجری کی ئې وساتم نبایدچی دلته ئې څوك درڅخه

غلانکی داهم خپل د زرو شیان ورکوی او کولالا نامعلوم ځای ته رهی کیږی، کله چی ئې مېړه ولاړ نوخسر ئې په ډېره خوشحالی او خلاصه ټنډه ورته وایی :

روکیا جانی؛ زه پوهیږم چی ته خورادیغ ئې یوڅو ورځی دمور کره ولاړه سه لږ څه به دی دمه راسته سی ، سات به دی تیرسی .

روکیا چی دا دمهربانی ږغ واو ریدی حیرانه دریانه شول چی داڅه نېکمرغه ورځ ده ده خو په دا څورلس کاله کی وماته پنځه پلا د مورد کور رخصت ندی راکړی نو دډېری خوشحالی په کمیسه کی نه ځائیدل، ژرژر ئې

په لوڼو پاك کالی واغوستل وځانته او خپلو کالو ته ئې هیڅ فکر نسته ژر له کوره ځنی

راووتل چی نباید شامك خان پر خپله خبره پښېمانه شی ، نه وه خبره چی دادچل اوفریب ږغ

او وروستنی وداع ده، په سبا شامك خان ددې دمورددروازی ځنځیر وشرنګاوه او روکیا ئې طلب کړل .

شامك خان تر روغبړ دمخه د روکیا پلاس کی یووړوکی کاغذورکښېښود اودی ژرځنی ولاړ په کاغذ کی ئې لېکلی وه :

عاقل یم، بالغ، لیونی نه یم، پرسدیم دامی چپه اوږه ده اودامی راسته اوږه ده اوروکیا راباندی په ثلاثه اوکلما طلاقه ده ...)

د طلاق نامی په آخره کی د (کولالا) لاس لیك و .

داچی دخط په موضوع خبره سوه ورباندی سپینه ورځ تېاره شوه، اوبېهوښه ولوېده هغه دخوشحالی ورځ ئې ورپوری وېراوماتم کړه، اوس ئی دمخ بڼه الوتی اولکه یومړی چی تازه له ګوره راوتلی وی پرداسی خیال ده .

استاته د ځان دمړولو په عوض کی درې نوری وږی او برمنډی ورپه پېڅه شوی سهارتر ماښامه درنی پلنډی پرککری چلوی چی د لمسیانو او ناښادی لور ډوډی وګټی مشره لمسی په هروخت کی اناته وایی :

اناجانی زموږ وکوټی ته ورسه هغه زما زرین کالی ګان راته راوړه زما دخور اوزما

دمور کالی به هم راوړی، خوانا ئی هیڅ جواب نه ورکوی او ژاړی، ځکه چی هغه بله ورځ ورغلی وه هغو درګا ورته تړلی وه او دننه ئی وسرای ته نه پریښووه .

شامك خان دروکیا مصارف اونه ئی هغه کالی ورکوی اونه دکچنیانو د ډوډی او کالیوغم ورسره دی، (استا) خواره، په هره میاشت کی مرکه ورلیږی چی ګوندی دمرکی په روی هغه په لور پوری مربوط شیان او

مصارف ورکی خو هغه کله وایی چی دقاضی په حضور ئی درکوم او کله بیا وایی : چی پلانکی آغا صاحب او پلانکی حاجی صاحب دی راسی چی ورئی کم خوچی بیا هغه هم ورسی بیا پدې بهانه چی هغه ستاسی دشیانو لیست

په دکان کی پاته دی ځان خلاص کی .

لنډه ئې داچی، دروکیا او استازو کلیدل او دربدری وشامک خان ته غوړه مېله ده او مزه پراخلی .

روکیا چی د خپلی مور دا ستړیا او دربدری وینی له ځانه سره دا فیصله کوی ، چی لوڼی داستا په پټه د (شامک خان) کره ورولی او لدې شواخونیو څخه په ېوه پلا ځان بیغمه کی ، ځکه ئې دمور په پټه ورولی چی پر آنا باندی لمسیانی خوراګرانی دی ، استا چی په سهار له کوره وزی (روکیا) دواړه نجیلانی دشامک خان کره ورولی او په ناقراره اوسوی زړه دکور پرلور راځی .

(روکیا) ددووتنو کچنیو لوڼو په بېلتون ډېره ناآرامه ده ، کله چی ئې مینه ورولاړه سی نو دشامک خان دکور دڅنګه وهغه بل کورته ورسی دجوړتیا پوښتنه ئې له ګاونډیانو څخه کوی اوتش داحوال په نیولو او ددغه لاندنی لنډی په ویلو ځان ته تسلا ورکی .

رب دی مرګ په ناکامی کړی
چی ماشوم آزاره وی څوک
یاچی زوی له موره بیل کړی
اوپلار دار بی پلاره وی څوک

د پیغلی (هما) ټولونه

غوره وینا وی

وایی چی : وخت تیریږی مګر نه دا اشتباه ده مونږ تیریږو .

[روبوسون]

✿❀✿

کله چی انسان خندا ذوق او شوق له لاسه ورکوی دهغو مړو سره تشبیه کیږی چی ساکاږی .

[سوفوګل]

✿❀✿

د روغجن ویوې قوی حافظی ته ضرورت لری .

[کورلی]

✿❀✿

پیسی ډېرښه نوکر او ډېر بدبادار لری .

[بیکن]

✿❀✿

ښځه دپوهانو له نظره ؛ ښځه یو وخت ذوق پیدا کوی ، او دا هغه وخت دی چی عاشقه سی (لارشفوکو) که ښځه نه وای دعلم په پیدایښت کی به نیمګړتیا موجوده وای او معلومه نه ده چی څرنګه به لیږی سوی وای .

[دبولان]

✿❀✿

خندا دپوهانو په نظر کی خندا له ژوند سره دجنګ ډېرښه وسله ده .

[اناتول فرانس]

✿❀✿

خندا تاوان نه لری مګر زیاته ګټه لری .

[دیل کارنګی]

✿❀✿

تاسی چی کله خندا کوی دانسانیت لباس اغوندی .

[ویلیام اشتین]

ټولونکی عبدالباری «دیدار»

د اډیسن اختراعاتی

په ۱۸۴۷ کال کی وزیږدی
» ۱۸۵۹ » خپل ژوند مستقل په لاس کی واخیست
» ۱۸۶۲ » د ډیلی دهرالډ په ورځپاڼه کی په کار لګیاشو
» ۱۸۶۸ » د آواز د ثبتولو آله ئی اختراع کړه
» ۱۸۷۱ » د (سولز) په همکاری د لیک ماشین اختراع کړ
» ۱۸۷۷ » د آواز د ثبتولو آله ئی شپږ او ګرامافون ئی اختراع کی
» ۱۸۷۹ » د برق څراغ ئی اختراع کړ
» ۱۸۸۰ » د برق د ینام جوړ کړ
» ۱۸۸۲ » برقی لکومو تیو اختراع کړ
» ۱۸۸۳ » د برق د خپرولو لومړی مرکز ئی جوړ کړ
» ۱۸۸۷ » د بیسم تلګراف د اوسپنو په لارو کی رواج کړی
» ۱۸۹۱ » د پټی خولی د فلم د تهیی دستګاه ئی جوړه کړ
» ۱۹۱۲ » ویونکی سینما ایجاد کړه
» ۱۹۲۰ » د نړی د شیانو جوړولو لومړی کارخانه جوړه کړه
» ۱۹۳۰ » د اختراعاتو اندازه و (۱۰۰۰) ته ورسیدله
» ۱۹۳۱ » مړسو

✡✡✡

غوره معلومات

د انسان د زړه ضربان په یوه دقیقه کی د ۷۵-۷۰
د کوچنیانو » » » » ۱۴۰-۱۳۰
د آس » » » » ۴۰-۳۰
د سوی » » » » ۲۰۰-۱۵۰
د موږک » » » » ۴۵۰-۳۵۰
د کنیر » » » » ۱۵۰-ضرب

✡✡✡

د نړی د بحرونو ژوری نقطی د اوقیانوس په بحر کی ۱۱۰۰۰ متره ده.
اطلس » ۸۵۰۰ »
هند » ۷۵۰۰ »
منجمد اوقیانوس » ۵۰۰۰ »

د نړی مشهور مخترعین

د تلسکوب مخترع ګالیله ایطالوی.
د تلویزون مخترع بوداسکاتایلندی.
د بایسکل مخترع مکملن اسکاتلندی.
د خیاطی د څرخ مخترع پتمونیه فرانسوی.
د طبابت ګوشکه مخترع لاقینه فرانسوی.
د عکاسی مخترع درګر فرانسوی.
د چاپ ماشین مخترع ګوتنمبرګ المانی.
د پیانو مخترع کرستوفرای ایطالوی.
د هیلکپتر مخترع برمان انګلیسی.
د ټانک مخترع سو پزون انګلیسی.
د نایلون مخترع کاروتر امریکائی.
د رادار مخترع نیلورو پونګ امریکائی
د کاغذ مخترع درلو دسل امریکائی.
د ټیلفون مخترع ګرام هایل امریکائی.
د لوپسپیکر مخترع رابس کلرک امریکائی.
د بالون مخترع مونتو هی فرانسوی.

ته می نه هیریږی

که څه هم راڅخه لیری یی خو زړه می تل تا یادوی او تاغواړی .
زما غمجن روح هر ګړی ستا په یاد الوځی او وجود می په تېاره او تورتم کی پروت دی .
ستا ځلاندی سترګی چیری دی چی لکه د سهار ستوری پشان روښا نتیا خپره کړی او تپه تېاره او تورتم لیری کاندی !

✡✡✡

غرو او دښتو موږ سره جلا کړی یو کنه ته مدام زما په غېږ کی ئې زما د هیلی او آرزو مرغه هر ګړی ستا خواته وزرونه رپوی .
څو مده په فضا کی سرګردانه الوځی او په ستومانه وزرو سره بیر ته خپلی ځالی ته راګرځی او د نا امیدی نه په ځګیروی پیل کوی .
ستا سپین او نازنین لاسونه چیری دی تر هغو چی د هغه غمجن زړه ډاډ ګیر نه کړی .

✡✡✡

که څه هم له ما نه لېری ئې خوشپه او ورځ می په خیال کی ګرځی عشق دی په زړه، نوم دی په ژبه او تن دی زما په غېږ کی ځای لری، هغه هیلی چیری دی چی ما ته به راتلی او په هر ګام به می ځان در څخه جاراوه .

✡✡✡

زما ګرانی محبوبی : زه پدې خوشحاله یم چی ته هم زما په یاد ئې ګرده شپه خوب نه راځی یو د هغی نېکمرغی حد چی د ویښتوب په نړۍ کی ځنی بی برخی یم د خوب په عالم کی می برخوداره کوی .

« ټاګور »

معذرت

څرنګه چی په تیره میاشت کی د برېښنا د دستګا د پرچا و کید و له مخی له مشکلاتو سره مخامخ وه نو د جدی او قوس د میاشتی مجله مو په یوه وار په ډېرو مخونو کی راوایستل هیله ده؛ چی محترم مشترکین به زموږ دغه معذرت ومنی .

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR: ZALMAI 'BARAK'
(DECEMBER, JANUARY) 1968
GOVERNMENT PRESS

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د ۹ کال اتمه گڼه

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
دهیواد په داخل کی [۳۳]
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر
پر له پسی گڼه ۹۸

د کندهار دولتی مطبعه